مورچل

دوولسم کال، لومړۍ، پرلپسې۱۱۳مه ګڼه،
ربیع الثاني۱۴۳۹هق جنوري۲۰۱۸م

نړیواله ټولنه او کاواکه کابل!!

په افغانستان کې ځومره امریکایي پوځیان وژل شوي؟!

وروستیو بریدونو دښمن ځومره متاثره کړی...!؟

- ټرمپ د امریکا جګړه ماره څېره رسوا کړه!
- د ترکیې او امریکا د جګړې نوی ډګر!
- اوږه په اوږه، وسله واله او رواني جګړه !
- په ساړه ژمي کې د طالبانو تاوده عملیات

دانټرکانټیننټل په برید کې د طالبانو د اخلاقي تعهد تبارُز

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

دوولسم کال لومړۍ، پرلپسې ۱۱۳مه ګڼه، ربيع الثاني ۱۴۳۹هـ ق جنوري ۲۰۱۸م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	په ساړه ژمي کې د طالبانو تاوده عملیات.....	۳
۳	ټرمپ د امریکا جګړه ماره څېره رسوا کړه.....	۵
۴	وروستیو بریدونو د ښمن څومره متاثره کړی.....	۷
۵	دوه سري رژیم په پردیو مړو هم دعوې وکړې.....	۹
۶	د انټرکانټینینټل په برید کې د طالبانو د اخلاقي تعهد..	۱۱
۷	تیروتلي خلک!.....	۱۳
۸	رسنۍ ! زمونږ دیني او اخلاقي مسئولیتونه.....	۱۵
۹	اوږه پر اوږه وسله واله او رواني جګړه.....	۱۷
۱۰	د ترکیې او امریکا د جګړې نوی ډګر.....	۲۳
۱۱	د بند تیمور فاجعه.....هغه چې رسنیو پرې چوپتیا	۲۸
۱۲	د اسلام غزوات او سرایا	۳۰
۱۳	د ټرمپ کلنۍ وینا له باټو او اپلتو ډکه وه!.....	۳۳
۱۴	هند ته د نتن یاهو سفر، موخې او ارادې.....	۳۶
۱۵	د غیر الله مزدوران	۴۰
۱۶	د مورچل وړمې.....	۴۲
۱۷	جنګي جنایتونه.....	۴۴
۱۸	د ۲۰۱۸م کال د جنوري د مياشتې جهادي خبرونه.....	۴۷

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

نړیواله ټولنه او کاواکه کابل!!

"کابل محاصره دی ....دهیواد اویاسلنه (٪۷۰)برخه دطالبانوترکنترول لاندې ده .... په افغانستان کې زمونږ پالیسي اوجګړه دواړه ناکام دي .... چې هرڅه وکړو دکابل امنیت نه شو ښه کولای ..... امریکاپه افغانستان کې جګړه اوږدوي، خو ښایي ډېری تابوتونه امریکاته هم راشي .... فساد وروستي اوج ته رسیدلی .... دبشري حقونو سرغړاوی ورځ تربلې په زیاتېدودی ..... طالبانو امریکایي پوځیان هواته پورته کړي او په ځمکه پنځه دقیقې مزل نه شي کولای .....پرامریکایي قواووحملې ۳ برابره او مخدره مواد ۸۷ سلنه زیات شوي ...."

بالاخره هغه دزوراو غرور خبرې اوګوت څنډنې چې امریکا، ایتلافیانو اوداخلي مزدورانویې کولې اوبه شوې اوهغو ترخو حقایقو منلوته مجبور شول، چې له دوی مخکې قطبي خرسانو اوتالي څټویې دلته مزه څکلې وه، خو بیا هم نړیواله ټولنه داهرڅه په حاشیه کې ویني او دداسې کاواکې ادارې په طرف ولاړ دي چې سبابه پرې شرمنده اوخجل وي .

پورته حقایق افتراء او دروغ نه دي، بلکې دنړیوالو مؤسسو،څېړنیزو مرکزونو اوپخپله ددښمن په خوله یواځې هغه واقعیتونه دي چې دوی یې ویلوته مجبورشوي، ورنه خبره خو تردې په څو چنده خرابه اوډېر حقایق لادهمدغه ړانده تائید ترپردې لاندې پټ دي، چې نړیواله ټولنه او نړیوال قوتونه یې دملت له ارادې نه په فاصله کې دوارد شوي حکومت!په ننګه ترسره کوي .

زمونږ په ژبه یې مه اورئ بلکې له خپلو تحقیقاتي مرکزونو او مؤسسویې واورئ اوبیا قضاوت پرې وکړئ!:

"د امریکا د «لدویګ ون میزس» په نامه څېړنیز مرکز چې په سیاسي چارو کې حکومت ته مشورې ورکوي وروستیوبریدونوته په اشارې سره ویلي؛ چې که امریکا افغانستان پرې نښوده له شرموونکې ماتې سره به مخ شي.

د دې مرکز رئیس «لیوراکویل» د "راشاټوډي" ورځپاڼې ته ویلي چې؛ امریکا ولې په داسې دولت باندې چې د نړیوالو تر وتلو وروسته د خپل پوځ په پایښت ۶ میاشتې باور نه لري میلیاردونه ډالر ولګول او د همدې محتاج رژیم په خاطر یې د نورو افغانانو وینې توی کړې.

د دې څېړنیز مرکز مشر همداراز ویلي؛ ټرمپ خپله انتخاباتي وعده چې له افغانستان څخه دځواکونو ایستل و، پوره نه کړه او دې هیواد ته یې نور اضافي ځواکونه هم واستول چې جګړو او وژنو ورسره سخت زور اخیستی او ښایي د دې جګړو ډیری تابوتونه امریکا ته هم راشي.

د راکويل په وينا که امريکا هرځومره د افغانستان وضعيت ښه وښولي، خو د دې هيواد خلک هيڅکله نه خوښوي چې هيواد يې اشغال او مستعمره وي"

په دې وروستيوکې دېته ورته نورو ډېرو په تېره امريکايي څېړنيزو مرکزونو او نړيوالو مؤسسو دافغانستان اشغال ارزولی او په همدې نامه يې يادکړی، دا په دې نه چې دخپل حکومت په وړاندې يې تګلاره بدله شوې، بلکې دجګړې عمق ته رسېدلي اوپه مقابل کې يې دمقاومت سياسي ثبات هم په ښه شان درک کړی دی .

اسلامي امارت چې کومه تګلاره خپله کړې په حقيقت کې دولس دارادې تمثيل دی، ځکه خو چې څه وايي او کوم غبرګون خپروي دهمدغه باوري استازيتوب په مټ پرې ټينګ وي ،دادی "بی بی سي" د نړدې پنځو مياشتو په موده کې يوه څېړنه کړې چې پکې ثابته کړې يې ده چې طالبان دافغانستان په (۷۰٪) اويا سلنه برخه واکمن دي .

دغه راز دافغانستان داسلامي امارت دهغه دريځ په اړه چې امريکا او ملګري به يې ماته خوري دولس ارادې ته به تسلميږي او زمونږمبارزه به دبري پراوته رسيږي، د استشهاداو تائيد په توګه يې هغه واقعيتونه دنمونې په ډول وړاندې کوو چې آزادو اوبې پرې سرچينو ترلاسه کړي اوخپاره کړي دي :

د **CBS** تلويزوني چينل ته دامريکايي قواوو قوماندان "جان نيکلسن" ومنله چې زمونږ قواوې حتی په کابل کې دوه ميله هم پلی نه شي ګرځېدای اودهوا له لارې خپلې اړتياوې پوره کوي . د cbs خبريالـه " لارالوګن" ليکي طالبانو امريکايي پوځيان هواته پورته کړي او په ځمکه پنځه دقيقې مـزل نـه شـي کـولای . دهمدغه چينل خبريالـه داشرف غني له خولې داحقيقت راباسي چې " هو! مونږ رښتيا هم محاصره يو اوکـه امريکايي قواوې له افغانستانه ووزي ۶ مياشتې هم دوام نه شو کولای"

دامريکايي حکومت څارونکې ادارې " سيګار" هم دجنوري دمياشتې په ۳۱مه نېټه دامريکا کانګرس، پينټګان او خارجه وزارت ته خپل يو راپور وړاندې کړ چې په زغـرده يـې دامريکـايي حکومـت دناکـامۍ اعتراف کړی او ويلي يې دي :

" په افغانستان کې دامريکادحکومت اغېز ورځ تربلې په ختمېدو او دطالبانو په زياتېدو دی، سيګار په خپل راپور کې زياتوي : دلته پرامريکايي قواوو باندې په حملوکې ۳ برابره زياتوالی راغلی، دغه راز مخدره مواد چې دمخنيوي لپاره يې تر ۸ اته اربه زيات ډالر ولګېدل ۸۷ سلنه زيات شوي .

په ورته ډول واشنټن پوسټ ليکي وروستيو بريدونو ثابته کړه چې دامريکاپالیسي څرنګه په دې هيـواد کې ناکاميدلی شي، اوهغه واقعيت يې ښه څرګند کړچې طالبـان څـومره پيـاوړي شـوي دي، دغـه راز يـې دملاماتۍ پړه هم دکابل پرحکومت ور اچولې ده اوليکي: دې پېښو دکابـل ادارې دامنيتي ليکـو ضـعف هـم ښکاره کړی اوپه ټوله کې دامريکـا د ولسمشـر ټرمـپ دپاليسـي پـه اړه پوښـتنې راپورتـه کـوي .دکابـل ادارې دکورنيو چارو وزير"برمک" له قوله يې ليکلي هغه وايي : په کابل ښارکې که هرځـه وکـړو دکابـل امنيـت نـه شو ښه کولای .

مونږ نه پوهيږو چې له دغو څرګندو او کره شواهدو سره سره چې دوی په خپله څېړلي، نړيوالـه ټولنـه په کومو دلايلو ددې کاواکه، بې ثباته اوله هرډول فساده ډکې ادارې ترشا ولاړ دي اوپه کوم دليل بـه بيـا پـه ځينو مواردو کې له مجاهدينو څخه دګيلې حق ولري ؟!

احمد مختار

په سارې ژمي کې
دطالبانو تاوده عملیات

سره له دې چې د مجاهدینو د ځپلو لپاره د ټرمپ جنګي ستراتیژي په خپل ټول زور د بمونو او بریدونو په زور پلي کیږي، د هغه ترڅنګ ساړه ژمي او نامناسبو موسمي شرائطو هم د مجاهدینو د جهادي عملیاتو په وړاندې خنډونه ایجاد کړي دي.

خو مجاهدین د الله په نصرت د دغو دواړو موانعو او خنډونو له شتون سره سره خپل عملیات په داسې طرز او تکتیکونو سره پرمخ وړي چې هیڅ ډول سکتګي او سوړ والی ورکې نه محسوس کیږي.

د مجاهدینو د دغو عملیاتو د ثقل مرکز هم په هغو ولایتونو کې دي چې هغو ته د هیواد د جغرافیایي تشکیلاتو له مخې سرد سیر ولایتونه ویل کیږي.

په شمالي زون کې په بدخشان او بلخ کې په جنوب لویدیځ زون کې په فراه او هلمند کې ، په مرکزي زون کې په غزني او خپله پلازمینې کابل کې د یرغلګرو او د هغوی د ملاتړو خلاف جهادي عملیات د ژمني موسم له موانعو سره سره په ښه تنظیم او ترتیب پر مخ بیول کیږي.

ټرمپ چې له ٦ میاشتو راهیسې د مجاهدینو خلاف کوم وحشت پیل کړی لله الحمد چې د مجاهدینو په مورال یې هیڅ منفي اغیز نه دی کړی .

که څه هم چې د ټرمپ اداري پر پوځي فشار سربیره د مجاهدینو خلاف تبلیغاتي فشارهم زیات کړی او هره ورځ افغانستان ته د اضافي ځواکونو ، هغوی ته د نویو پوځي صلاحیتونو، نویو جنګي الوتکو او نظامي تجهیزاتو ورکولو خبرونه خپروي.

پر دغو پوځي او تبليغاتي فشارونو سربيره يې د جهادي عملياتو بې تاثيره ښودلو په غرض په ترکيه کې د سولې په پلمه ډرامه هم عملي کړه. خو لکه څرنګه چې په پوځي ساحه کې له ماتې او رسوايي سره مخ دي ، د ترکيې غونډه يې هم د ستر فضيحت او شرمنده ګي لامل شوه.

اوس مجاهدين په دريواړه ساحو (نظامي، تبليغاتي اوسياسي) برخه کې پر دښمن غالب دي .

د غلبې ښکاره لامل يې د کابل غونډې په مهم او له امنيتي لحاظه تر کلکو تدابيرو لاندې نيول شوي ښار کې داسې تکتيکي او موفقانه عمليات تر سره کول دي چې امريکايان ، ناټو او د هغوي په لاس روزل شوي مجهز ځواکونو يې له خپلو ټولو پرمختللیو کشفي وسائلو سره له مخنيوي څخه عاجزدي.

د مجاهدينو د غلبې بل لامل د هغوي فوق العاده هجومي عمليات دي چې هر ځای او هروخت يې وغواړي د هيواد په هره نقطه کې پر دښمن پلي کولای شي.

د مجاهدينو د دغې هجومي برلاسۍ له وجې د بهرنيو ځواکونو عمومي قومندان جنرال نيکلسن له امريکايي سي .بي.اس تلويزني شبکې سره پر دې اعتراف وکړ چې دوي په کابل کې د طالبانو لخوا محاصره او خپلو هغو مراکزو او اډو ته يې چې يو يا دوه کيلومتره واټن وي هم تګ راتګ په الوتکه کې دی.

د مجاهدينو دغه پوځي تفوق د ګډ حکومت ګوډاګی مشر هم وارخطا کړی او د دغه وارخطايي اظهار يې له سي .بي.اس تلويزوني شبکې سره په خپلې مرکې کې داسې وکړ:

((مونږ په يوه تر ټولو بد جنګي وضعيت کې قرار لرو، همدا د امريکايانو حمايت مو د واکمنې د بقاء او دوام لامل دی ، که نن راسره د امريکا پوځي حمايت نه وي زمونږ حکومت شپږمياشتې هم د طالبانو په مقابل کې د ټنګيدو نه دی))

د کابل په محاصره توب او په شپږو مياشتو کې د ګډ حکومت د سقوط خبرې د جنرال نيکلسن او اشرف غنې عترافات د يرغلګرو په وړاندې د مجاهدينو د ښکاره برې او غلبې نښې دي.

او دغه اعترافات دقيقا په داسې وخت کې تر سره کيږي چې تازه د ژمي موسم شروع شوی چې نور کله به همدا مهال د مجاهدينو اکثريت پوځي فعاليتونه متوقف و.

خو اوس چې هم د مجاهدينو جهادي عمليات بلا توقفه جريان لري او هم يرغلګر د هغوي له ټول غرور او زور سره پر خپلې ناکامي اعترافونه کوي دا په حقيقت کې د باطل په وړاندې د حق او عدالت دبريالیتوب رمز دی.

وقل جاء الحق وزهق الباطل ، ان الباطل كان زهوقا...

ټرمپ د امریکا
جګړه ماره څېره رسوا کړه

■ حبیب مجاهد

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د روان کال د جنورۍ میاشتې په وروستۍ نیټه د امنیت شورا د دایمي غړو هیوادونو له استازو سره په مجلس کې وویل چې نور په افغانستان کې د تفاهم او سولې احتمال مردود بولي او هڅه به وکړي چې طالبان یوازې د جنګ په زور سرکوب کړي.

د جګړه مار ټرمپ د دې خبرې په تعقیب د ګوډاګي رژیم د ارګ ویاند شاه حسین مرتضوي هم اعلان وکړ چې نور د سولې بهیر پای ته رسیدلی او دوی به هڅه وکړي د جګړې په توندولو سره طالبان سولې ته اماده کړي. د ټرمپ دغه خبره چې رسنۍ یې د امریکا نوی موقف بولي خو که ژور نظر وکړو دا خبره د امریکایانو د کومې تازه موقف ګیرۍ استازیتوب نه کوي بلکې امریکایانو یوازې خپل تر پردې لاندې جنګي ستراتیژي ډاګیزه کړې او په څرګنده یې وربانديې اعتراف کړی دی.

له هغه نیټې چې په افغانستان کې د طالبانو اسلامي تحریک پاڅون کړی، بیا د اسلامي امارت دواکمنۍ او وروسته د جهاد په اوولس کلنه دوره کې، اسلامي امارت تل هڅه کړې د نورې نړۍ او ګاونډیو هیوادونو په څیر امریکایانو ته هم قناعت ورکړي چې مورږ یوازې د خپل هیواد د امن او ودانۍ لپاره راپاڅیدلي یو او د نړۍ نورو هیوادونو ته د ضرر رسولو اراده مو نشته.

مګر امریکایانو له لومړۍ ورځې څخه له طالبانو سره دښمني پیل کړې ده. دا دښمني که په پیل کې د تبلیغاتي جنګ، سیاسي فشار او اقتصادي بندیزونو په بڼه وه، وروسته توغندیزو حملو او ورپسې بشپړ پوځي یرغل ته ورسیده. په

دې مرحله کې اسلامي امارت په داسې حال کې چې جهاد يې الهي فريضه او د هيواد د نجات يوازينی ضامن باله، خو د دې لپاره چې د اولس وژونکي جګړې ټغر ژرتر ژره ټول شي د سولې د مذاکراتو او د معضلې د سوله ايز حل په احتمال يې هم هميشه ټينګار درلود.

اما مقابل جانب امريکايانو که څه هم د شعار تر حده يې د سولې تبليغات کول او د کابل رژيم تر چتر لاندې يې د سولې تش په نامه شوری هم اکمالوله. خو په عملي ډګر کې يې قطعا سوليز حل ته اعتقاد نه درلود او نه يې هم منتجو مذاکراتو ته امادګي ښودله.

امريکايانو په تيرو اوولسو کلونو کې په عملي ډګر کې يوازې جګړه ايزه ستراتيژي تعقيبوله، په افغانستان کې يې د بهرنيو پوځيانو شمير يونيم لکو ته پورته کړ، قسماقسم جنګي الوتکې او وسلې يې زمور هيواد ته راوړې. دلته يې سترې پوځې اډې جوړې کړې، په لسهاوو زره جنګي اجيران او داخلي ټوپکيان يې تربيه او اکمال کړل او په هره برخه کې يې د جنګ د پراختيا او تمديد لپاره په ملياردونو ډالر مصرف کړل.

په داسې حال کې چې امريکا په عملي ډګر کې دجګړې اور ګرماوه، په تبليغاتي برخه کې يې د سولې تش عنواني تبليغات کول او مجاهدين يې ملامتول چې د سولې خلاف دي او سوله ايز حل په رسميت نه پيژني. دې حالت که له يوې خوا د امريکا اصلي جګړه ماره څيره له خلګو پټه ساتلې وه، بل اړخ ته عام اولس له امريکايي تبليغاتو څخه په تأثر مجاهدينو ته د يوه سوله ضد جريان په نظر کتل.

خو دا چې اوس د امريکا ولسمشر په زغرده اعلان وکړ چې د افغانستا ن د مسئلې سوله ايز حل په رسميت نه پيژني په دې سره د جګړې د اصلي علت او عامل څېره بشپړه روښانه شوه چې هغه امريکايان او د هغوی په وسلو او ستراتيژيو مست داخلي جګړه مار ګوډاګيان دي.

ټرمپ د سولې او تفاهم په ترديد سره د يرغلګرې امريکا اصلي جګړه ماره څېره بربنډه کړه او نور زمور اولس ته په دې کې د شک او ابهام ځای نه دی پاتې چې د روانې جګړې او خونريزۍ اصلي مسؤل څوک دي؟ او کوم اړخ دی چې د جګړې په دوام سره زمور د اولس د دربدرۍ او ستومانۍ داستان اوږدوي.

زمور اولس چې سخت د سولې ارمانجن او د آرام ژوند تږی دی بايد د اشغالګرو دنوي جنګ سياست په خلاف په يوه غږ راپورته شي. د جګړې اوربلوونکي بايد محکوم او د زعامت له څوکۍ څخه رانسکور کړي تر څو مو هيواد د نارامۍ او جګړو له حالت څخه راووځي او ستومانه اولس مو د ارام ساه واخلي.

وروستيو بريدونو

دښمن څومره متاثره کړی...!؟

موسی فرهاد

د مجاهدينو وروستيو بريدونو چې په عمومي ډول د هيواد په مختلفو برخو کې ترسره شول، خصوصاً د کابل دوه وروستي بريدونه چې کانټينينټل هوټل کې يې بهرنيان او د داخله وزارت په زړه ودانۍ کې يې کورني عسکر په نښه کړل؛ داسي ښکاري چې بهرني او داخلي دښمنان يې خورا سخت متاثره کړي دي.

له همدې ځايه ده چې له ترمپه نيولي د کابل تر ګوډاګيانو پوري د ټولو چارواکو ميډيايي څرګندوني د يو سخت ترهيدلي او غيرنارمل انسان څرګندونو ته ورته بريښي.

ټرمپ چې د مجاهدينو د بريدونو په تعقيب په خپل وروستي ټويټ سره د افغانستان د اشغال او جګړې د دوام اعلان وکړ او پر سولې يې د بطلان کرښه راکښله ؛ نړۍ ته يې د امريکا منحوسه جنګي څيره نښه څرګنده کړه.

ورپسې يې ارګ ميشتو ګوډاګيانو هم د خپل بادار په تقليد اعلان وکړ چې مورږ سوله په جنګ کې لټوو. په داسی حال کې چې دا ۱۷ کاله يې ملت ته دوکه ورکوله او د سولې په نوم يې دروغجنې نغارې غږولې.

په هر صورت دا چې د امريکا دوه مخې څېره څنګه دنيا ته څرګنده شوه او داچې د غلامانو ګوډاګيتوب او نا اهليت هم دنيا ته ښکاره سو چې هغوی د يوې ريموټې نانځکې حيثيت لري، نور نه د جنګ او نه د سولې توان ورسره شته ؛ دا هرڅه پر خپل ځای.

خبره دا ده چې دوی ولي وروستيو بريدونو نه دومره اغيزمن شول، ؟ حقيقت دا دی چې د کابل د کانټينينټل او داخله وزارت برید که څه هم ظاهراً يو دوي چاودني او يا د څو ساعتونو لپاره د متقابلو ډزو تبادله وه؛ مګر په واقعيت کې دا يو دومره ستر ګذار و چې د يرغلګرو او د هغوی د ګوډاګيانو نه يې د پرتوګ ايستلو په

معنا دی، هغوی ته چې څومره د سر زیان ور واوښتی، او څومره کوادراشخاص یې پکې له منځه ولاړل ؛ تر دې زیات یې په نړیواله کچه د هغوی سیاسي حیثیت له خاورو سره خاوري کړ، نظامي او استخباراتي وړتیا یې په نړیواله کچه له شکست سره مخ شوه.

شپږ میاشتې وړاندې چې امریکا نوي جنګي ستراتیژۍ اعلان کړه او ګوډاګیانو یې ورته خوښي څرګندوله؛ دوی داسي انګیرله چې ګویا ستره بریا یې په مخ کې ده، ځکه چې په سلګونو الوتکي، چورلکي ، بې پیلوټه او نوري ... یې د هیواد فضاء ته پورته کړې او پوره نیم کال یې شپه او ورځ په زرګونو ډانده بمونه وغورځول، په یو او بل نامه یې په زرګونو ولسي وګړي په شهادت ورسول، د دې لپاره چې په دا ډول وحشت سره ولس وویروي ترڅو د دوی په وړاندي له جهاد نه لاس پرسر شي، وخت پر وخت به یې د خپلو اجیرو رسنیو په مټ اعلانول چې وژل شوي خلک (په اصطلاح) ټول ترهګر دي او نور دا ترهګر نشي- کولای چې امریکایي ځواکونه او لاسپوڅي عسکر یې په نښه کړي.

مګر دې ته یې فکر نه وو چې مجاهدینو اوس د مبارزې ټول تاکتیکونه زده کړي، د جګړې په نبض تر هر ډول مصنوعي جنرالانو نښه پوهیږي. هغوي په دې ډېر نښه پوهیږي چې څنګه د جګړې تکتیک او لوری پرخپل وخت بدل کاندي، له همدې ځایه وه چې د کابل په وروستیو بریدونو سره یې ثابته کړه چې دښمن ته د څومره ستر زیان د اړولو وړتیا لري.

په کانټینینټل کې پر بهرنیانو او بیا د داخله وزارت په زړې ودانۍ پر کورنیو سرتیرو بریدونه که څه هم اجیرو رسنیو د چارواکو په خوله ظاهراً پر غیرمحاربو خلکو بریدونه تلقي کاوه او داسی یې څرګندوله چې ګویا دولتی خلکو ته زیان نه، او یا کم متوجه شوی؛ مګر حقیقت بیا هم تر لمر ډېر روښانه سو چې هم بهرنیو اتباعو او هم کورنیو عسکرو ستره صدمه لیدلي، بیا په داسی حساسو مراکزو کې چې پر امنیت ساتنه یې بهرني او کورني تربیت شده وسلوال مامور کړای شوي او په کمپیوټرایزډ سیستم سره یې دقیقه څارنه کیدله، او په دومره حساس وخت کې چې دښمن د خپلې ستراتیژۍ د بریا نغاري غږولي. او مجاهدین یې نور د خپلو زرهاوو ړندو بمبارویو په مټ له جنګي صحنې وتلي بلل.

نو طبعی ده چې له دا ډول مؤثرو تکتیکي بریدونو نه به دښمن په لوړه کچه متاثره کیږي، او د راتلونکي په اړه به د ناکامۍ او شکست ویروونکي خوبونه وینې.

دوه سري رژيم

په پردیو مړو هم دعوې وکړي!!

خلیل – عزیز

دکابل ښار په حساسه سیمه (دکورنیو چارو وزارت زړې ودانی) کې چې کومه زوروره چاودنه ترسره شوه اودتلفاتوپه باب یې چې رسنیوکوم راپورونه اوصحني خپری کړي زیاتره یې جعلي اوتذویري وي.

مغرضو رسنیو دخپلو بادارانو په هدایت اومصلحت اعظمي هڅه وکړه چې دموټربم فدایي بریدپه ترڅ کې چې کومه مرګ ژوبله رامنځته شوي هغه ټوله ملکي وښیی؛ خوحقائیق هیڅکله داسې نه دی

که درانه لوستوال دکابل پیښي له یونیم تصویرپرته نور ګوګل ته ورکړي اوسرچ یې کړي ورته ښکاره به شي چې نومورې صحني چې حلقه بګوشورسنیوخپري کړي دزیاتروتعلق اوربط یې دسوریي له جګړو او قربانیانوسره وو، هغه چې داعشیانو، روسانو او امریکایانوددودریوکلونوپه اوږدوکې دخپلو ناترسه هوایي بریدونو او حملو په ترڅ کې په سوریه کې دعامو وګړو په وړاندې ترسره کړي وو.

دغه راز دپروني ورځې څو صحني اوعکسونه (د کابل په دیمزنګ کې د شیعه ګانو پر مظاهره ددداعش دترسره شوي بریدوي) چې په ټولویې ۲۰۱۷ کال لیکل شوی وو؛ ولې مزدورو رسنیوپه مسلسل ډول زیارویست چې هغه ځورونکي تصاویراوصحني پرونی وښیی

لکه چې د اسلامي امارت ویندویانو اعلان کړه دکورنیو چار وزارت په زړي ودانی کې دترسره شوی برید هدف هیڅکله ملکي وګړي نه وو ، بلکې هغه پولیس اوداردو عسکر یې هدف وو چې هره ورځ به دکورنیو چارو وزارت افسران اوعسکرپه یادي ودانی کې

راټولیدل اودوزارت له لـوري بـه ورځنـی کـاري مهال ویش هغوته په ډاګه کیده

دبې بې سي انګلـیش ویـب پـاڼې دورځـي ترنیمایـي پـوري داخبرلـیکلي ووچـې دپرونـی پیښـي هـدف پـوځي ځـای اوامنیتـي افـرادو عسکرول خوورسته چې کله امریکایـانو ګـوت ځنډنه ورته وکړه نو هغه خبریې له خپلې صفحي لیري او پوځي زیانونه یې په ملکي مـرګ ژوبـلي واړول.

دا چې رسنیوولې د پرونی پیښي قربانیان په جعلي اوخودساخته ډول له یـوې مخـې ملکیـان یادکړل اوپـه پراخـه کچـه یـې زهـرجن تبلیغـات وکړل دلیل یې ښکاره اوظاهر ده.

تیره اونـی پـه انټرکانینټـل هوټـل چـې کـوم بریدترسره شو او دورند ځاني زیان یې امریکایانو او د ګنو اشغالګرو هیوادونو اتباعوته ورواړاوه او دا حقیقت هم هر چاته ثابت شو چې په کانینټـل هوټل کـې فدایانوپـه څـه ډول ملکـي اوپـوځي وګړي او هم داخـلي اوبهـرني اتبـاع سره بیـل او تفکیک کړل اوله هرکس څخه یې پوښـتنه کـړي وه چـې بهرنیـان چیرتـه دی اوافغانـان اوملکـي وګړي دې یوه لوري ته ودریږي او خارجیـان دي بل لور ته او د عیني شاهدانو خـبره وه چـې کلـه بـه مـونږ فـدایانو تـه ووئیـل چـې مونږافغانـان اومسلمانان یو نودتوپک شـپیلی بـه یـې راڅخـه واړوله.

نـو وئـیلای شـو چـې د کانینټـل پیښـي د امریکایـانو او د هغـوئ دګوډاګیـانوکیني او قساوتونه څو برابره زیات کړل اوددې لپـاره چـې له خپلو وګړو سره داسلامي امارت د خواخوږی ګټل شـوی نـوم او ژونـدی ثبـوت خـدای مکـړه داغمن اویایې مخدوش کړي نوپرون یـې دیـوې جوړي شوي دسیسي- اوبرنـامي لـه مخـي هڅـه وکړه چـې دکورنیوچـاروروزارت پـه زړي ودانـی ترسره شـوی بریـد مخـامخ پـه ملکـي خلکـو او اهدافو وښیي.

خـو افغانـان بائیـد ددښـمن دغوحربـو او دسیسـو تـه ځیـر او متوجـه وي اوپـه نـاولیو اومخربو تبلیغاتو یې تیرنه ووځي ؛ځکـه غلـیم د تـاریخي شکسـت اورسـوایي پـه پولـه ولاړ او ایساردی او لدې پرته چې دولـس اذهـان اخـلال اوحقائیق مسخه کـړي بلـه چـاره اوچـانس پـه لاس کې نه لري.

شاهد (غزنیوال)

د انټرکانټیننټل په برید کې
د طالبانو د اخلاقي تعهد تبارُز

د روان کال د سلواغې د میاشتې په لومړۍ شپه طالبانو وکړای شول د کابل ښار ترټولو خوندې او مهم دولتي هدف انټرکانټیننټل هوټل په نښه کړي.

سره له دې چې انټرکانټیننټل هوټل له امنیتي پلوه ترکلکو امنیتي تدابیرو لاندې نیول شوی ، د هغه د مراقبت او ځارنې لپاره د هوټل په دننه او بهر کې مجهز مراقبتي سیستم عیار شوی ، او د امنیت لپاره یې خواو شا ۸۰ تنه وسله وال ساتونکي ګمارل شوي ، خو طالبانو وکړای شول له دغو ټولو امنیتي ترتیباتو سره سره په کامیابي سره هوټل ته ور دننه او خپل عملیاتي پلان عملي کړي.

عملیاتي مشخصات

پر انټرکانټیننټل هوټل برید یو نمونه یې برید و چې پر نورو مشخصاتو سربیره یوشمیر داسې ځانګړتیاوې لري چې په هغوي باندې په ترکیز سره باید مجاهدین د تل لپاره هغه د خپلو عملیاتو لپاره سرمشق وګرځوي او خپل عملیاتي پلانونه د هغوی مطابق عیار کړي.

د دغو مشخصاتو له جملې څخه یې ځینې په لاندې ډول تشریح کوو:

اخلاقي تعهد

دا چې له یوې خوا د ولسي- خلګو د ځان او مال خوندیتوب د هرمجاهد دیني او اخلاقي مکلفیت دی او له بلې خوا د اسلامي امارت مشر- تابه تل خپلو مجاهدینو ته د ولسي- وګړو د ځان او مال د تحفظ توصیه کوي پر انټرکانټیننټل باندې برید کوونکو مجاهدینو دغه اخلاقي تعهد ته په ژمنتیا سره هغه په بشپړډول عملي کړ.

یادو مجاهدینو د استشهادي برید په هماغو سختو شرائطو کې په هوټل کې د میشتو ولسي- وګړو د ځان او مال د حفاظت لپاره په خورا احتیاط سره خپل پلان په داسې ډول عملي کړ چې ولسي- وګړو ته ورکي زیان نه ورسیږي.

داچې هغوی د یاد عملیاتي پلان د پلي کولو لپاره تر ۱۷ ساعتونو پوري د هوټل په منځ کې پاتې شول ، هغوي په دومره زیات وخت کې د دې کوښښ وکړ چې هم د خپلو پیرونو له ضرره په

هوټل کې محاصره ملکي وګړي وژغوري او هم پر دښمن د هوټل له هغو نقطو څخه بريدونه وکړي چې ولسي وګړي تري متضرر نشي.

د بهرنيانو پر وژنه ترکيز

په هوټل کې د بند پاتې شويو ولسي وګړو له را وتلو وروسته هغوی له کورنيو او بهرنيو رسنيو سره په مرکو کې پر دې واقعيت اعتراف وکړ چې برید کوونکو مجاهدينو د دي روح بښونکي جملې په ويلو سره مونږ ته اطمنان راکړ چې افغانان دي له بهرنيانو جلا شي.

د برید کوونکو مجاهدينو دا اطلاع د ډيرو ولسي وګړو د اطمنان او ځان ژغورلو لامل شوه .

ځکه په لومړي سر کې په هوټل کې شته کسانو دا فکر کاوه چې برید ګربه په هوټل کې ټول ميشت کسان بغير له تفکيک او تشخيص نه وژني ، خو ((افغانان دي له بهرنيانو جلاشي)) جملې عادي وګړو ته دا ډاډ ورکړ چې برید کوونکي د خپل خاص هدف په تعقيب سره په هوټل کې له عامو ميلمنو سره غرض نه لري ، بايد هغوی انديښنه ونه کړي.

د هوټل د ممتلکاتو د خوندیتوب رعايت

بله مشخصه چې د انټرکانټينټل هوټل برید کوونکو د برید په مهال رعايت کړې هغه د هوټل د ممتلکاتو ساتنه او له ضرورت پرته د هغو له زيانمن کولو څخه ځان ساتل دي.

دا چې يادو مجاهدينو له ځان سره د اورلګولو او سمنټي ديوالونو د نړولو کافي وسائل له ځان سره لرلو خو هغوی له ضرورت پرته نور د هوټل د ممتلکاتو د ساتنې خاص رعايت کړی او بې ضرورته يې نه کوم ځايته اور ورکړی او نه يې هم کوم ځای نړولی.

هماغه و چې د انټرکانټينټل د برید کوونکو د خاص اخلاص او د هغوی د دغو اخلاقي مشخصاتو له وجې الله تعالی د هغوی په عملياتي پلان باندې ښه مثبت نتائج مرتب او ډير داسې مهم بهرني پوځي او استخباراتي کسان د دوی په لاس ووژل شول چې د هغوي وژنه د دښمن لپاره لويه صدمه او خساره ده.

زمونږ نور مجاهدين ورونه چې غواړي نورهم د ښارونو په منځ کې د دښمن پر اهدافو بريدونه وکړي بايد د انټرکانټينټل د برید د طراحانو او پلي کوونکو مؤثرې طرحي عملي کړي.

داچې د ښاري جګړو تکتيک له نورو جبهې او چريکي جنګو څخه بيل دی بايد په يادو عملياتو د دښمن تر په نښه کولو وړاندې هلته د ميشتو ولسي- افرادو د سر او مال د تحفظ جدي خيال وساتي.

ځکه کوم عمليات چې په هغو کې ملکي تلفات متحقق وي له دې پرته چې د جهاد او مجاهدينو د بدنامي او ناکامي لامل شي بله هيڅ ګټه نه لري.

تپروتلي خلک...!!

موسی فرهاد

فقهاء کرام وایي: د فرضي عبادت په وخت کې یوازي د همغه مقصود بالذات فرضي حکم ادا ینه او پرځای کول؛ اصل عبادت ګڼل کیږي. یعني په دې وخت کې بل څه نه ځایئږي، الّا که یې د تکمیل او تقویت لپاره وو، بیا ورسره کیدای شي. او باعث د مزید اجر ګرځي.

مثلاً د رمضان په میاشت کې یوازي فرضي روژه نیول کیدای شي، نفلی روژه کار نه ورکوي. نور نیک اعمال په دې شرط ورسره کیدای شي چې د فرضي روژې د نیه تکمیل لپاره وي، لکه نوافل لمونځونه، صدقات، قیام اللیل، تلاوت او داسي نور... خو مقصود بالذات عبادت به یوازي فرضي روژه وي، داسی نه شي کیدای چې روژه پریږدي او تلاوت یا نفل لمانځه ته کش سي. دا عبادت هیڅکله مقبول نه دی.

همداسي د فرض عین جهاد حکم هم دی، کله چې د قرآن د حکم مطابق پرمسلمانانو جهاد فرض عین شي، بیا مقصود بالذات عبادت همدا یوازي جهاد بلل کیږي چې عملاً به سړی د دښمن پرخلاف د مسلمانانو په صف کې دریږي، که په هر شکل وي. جهاد بالمال کوي، که سنګر ته ځي که د غازي د کور پالنه کوي او که د قلم او دعوت په وسیله د مجاهدینو مرسته کولای شي. خو ده په هر صورت ورباندي لازمه. په داسی وخت کې جهاد پرینبودل او په بل عبادت باندي ځان جنت ته رسول؛ د شریعت د روح او د کتاب د حکم خلاف دی، ځان ته دوکه ورکول او د شیطان خبره منل دی.

نن سبا چې په افغانستان کې جهاد داسي فرض عین دی چې انکار یوازي هغه څوک تری کولای شي چې پر قرآن او حدیث یې ګرسره عقیده نه وي. نو په داسي یو حالت کې هم ځینی وګړي شته چې ځان یې پرته له عذره ګوښې ته کړي وي،

خپله يې هم دا فکر وي او نورو ته هم وايی چې وروره، بې طرفه اوسه، غلی کښينه، خپل دوه رکعاته نفل کوه، په چا کار مه لره. دا وخت د دې نه دی.

حتی په ميډيا او سوشيل ميډيا کې هم نن سبا ډېری کسان دي چې د مجاهد د خبر په لوستلو لاځان نه ستړی کوي، په اشاعت کې مرسته کول خو يې هيسته پرېږده. وای هسی نه حکومت يا امريکا راباندي خبر نشي، بيا به می افراطي وبولي.

ځينې لا داسې هم دي چې يوازې ځان له دې کاره نه ساتي بلکې نور خلک هم تشويقوي، وای وروره، جهاد خو به ګرانو صحابه کرامو کاوه چې نبی عليه السلام مبارک يې په منځ کې موجود و (ترده مې قربان کړي) او وحي به ورته راتله، اوس خو حق و باطل نه مالومېږي. چې دا اوس وروروژنه ده که څه ده.؟ (دا اوس امريکا او ملګري يې پر حق دي او که طالب پرحق دی) نو صاحبه! دغه خپل دوه رکعته نفل مو ښه دي، يا به په لاره کې چيرې ميړيانو او مرغانو ته داني ور واچوو دا ډېر د ثواب کار دی. پلاني بزرګ هم داسي کول. په هيڅ چا يې کار نه درلود. بيا خپله بزرګي د مثال په توګه بيانوي وای هغه ورځي پر لاره تيريدم ميړی په لاره کې وو، ايسته می لاره ځينی چپه کړه ماول هسي نه را نه خوږ نسي، ګناه کار به شم.

نو داسی عمل د قرآن حديث او فقهي د ريښتينو علماؤو له نظره مردود دی، ځانونه دې د شيطان په وسوسه نه دوکه کوي. داسی کسان دې يوځل بيا د خپل دين په اړه له داسی عالم نه په اخلاص پوښتنه وکړي چې په ريښتيني توګه په قرآن، حديث او فقه پوهيږي.

کنه خدای مکړه چې دا کسان د عمل له پلوه د هغو وګړو په کتار کې رانشي چې پيغمبر عليه السلام يې په اړه فرمايلي:

داسې زمانه راتلونکي ده چې ډېری پوهه خلک به وايي: دا د جهاد کولو وخت نه دی، مګر همدا د جهاد ترټولو غوره وخت دی، ځوک چې يې ومومي. «فَجاهِدُوْ فَاِنّ الجِهاد اَفْضَلُ»

صحابه وو په حيرانتيا سره وپوښتل، د خدای پيغمبره! آيا مسلمان به وي او داسې به وايي؟ (چې اوس جهاد نشته) (ځکه چې نبی ع خو فرمايلي چې زما له بعثته بيا زما د امت تر وروستي ټولی چې له دجال سره به جهاد کوي؛ جهاد فرض شوی او زما امت به يې کوي.)

نبی عليه السلام: هو! دې خلکو ته به په ټولنه کې خطاب هم د پوهانو کيږي، مګر پر دې خلکو به د الله جل جلاله، د هغه د پرښتو او د ټولو انسانانو لعنت وي.

رسنۍ!

زمونږ دیني او اخلاقي مسؤلیتونه:

ارمان

رسنۍ نن سبا دهرې ټولنې یا هېواد ددینې او اخلاقي ارزښتونو د دفاع کامیابه وسله اود دعوت مؤثره زریعه ګرځیدلي، چې د باثباته اوبریمنې ټولنې په رامنځته کولو کې یې منلی شوی رول او ځواکمن کردار خورا روښ او جوت دی .

دنړۍ په کومو هېوادو کې چې داخلاقي ارزښتونو قدرو قیمت ته په سپکه کتل شوي،هلته ولسونه دنه پای لرونکو بدمرغیو او بد اخلاقیو داسې ډنډونو ته پریوتي چې دهغونه دوتو لپاره لار او ګودر نلري ، زمونږ ګران هېواد (افغانستان) ته هم دامریکا دیرغل وروسته دتش په نامه ازادۍ په پلمه د پردي پالو رسنیو لخوا له ديني او اخلاقي پلوه ورته نه جبرانیدونکي زیانونه رسیدلي چې ورځ تروړځې په هغو کې نور زیاتوالی راځي .

د ګنو بې لارو غربي رسنیو په مقابل کې ایله څو په شمار وطن پالې او اسلام پالې رسنۍ شتون لري کومې دلږو امکاناتو په مټ دمنحرفو او بې لارو رسنیو لخوا دفکري او فرهنګي یرغلونو په مقابل کې یې خپل قلمونه سپر نیولي.

دارزښتونواهمیت:

ديني یا اخلاقي ارزښتونه ټولنې دشرافت، انصاف او د اجتماعي بري ضامن دي له ارزښتونو څخه مراد هغه کړنې یا اعمال دي کومو ته چې په ټولنه کې ددین، قانون، اداب ، عاطفه او هغه چې په اجتماعي چاپیریال کې ورته په غوره نظر سره کتل کېږي پربل سپناوي: ارزښتونه هغه ټول حسنه اعمال او افعال چې احترام او درناوی یې کېږي خلک ورته دقدر او احترام په سترګو ګوري او په ورځیني ژوند کې یې کول غوره بلل کېږي.

ديني ارزښتونه لکه : عبادات، لمونځ، روژه، زکات، حج، تلاوت، الهي ذکر او نور... اسلامي او اخلاقي ارزښتونه: شرم، حیا، ایثار،قرباني، دمشرانو احترام، پر کوچنیانو شفقت، حسنه اخلاق، دوخت قدر ، داانسان احترام، دناروغ پوښتنه، میانه روي ، رښتنولې، وروروله ، خپلمنځي اتحاد، یوبل سره همدردي او دبې وزلانو لاسنیوی ، دظلم مخنیوی دمظلوم مرسته اونور... هغه دي چې اسلامي او اخلاقي ارزښتونه بلل کېږي

د رسنیو پر چلونکو او لیکونو فرض ده چې داپورته یاد ارزښتونه په پام کې ولري ،په دي معنی چې یوپلو وربانديي دخلکو دپوهاوي لپاره کار کوي ، پر تبلیغ او رسولو کې یې وندې واخلي بل لورته پخپلو ورځینو، اوونیزو، ماشتینو او مهالنیو خپرونو کې هیڅکله پایمال نکړي ، یعنې تري دسرغړونو جسارت

ونکړي، هره رسنۍ چلونکي باید خپلو اسلامي، ملي او اخلاقي مسؤلیتونه درک کړي ، په اړه یې تل حساس او بیدار ذهنیت ولري او ورباندي وویاړي که مسلمان پخپل فرهنګ، کلتور، اخلاقو او اقدارو نه ویاړي او دنورو قومونو او خلکو داقدارو پیروي خپلوي نو دا به خورا بدمرغه پایلې ولري.

عموماً ویل کېږي رسنۍ هغه څه وړاندې کوي ،چې په یوه ټولنه کې پېښېږي، یعنې دټولنې عکاسي کوي خو حقیقت دادی چې رسنۍ ددې کار ترڅنګ دارونده ټولنې فکري رهبرې کوي!دهرې ټولنې خلک درسنیو اوري او درسنیو مني، باید رسنۍ دټولنې دخلکو د مثبتې روزنې او اصلاح فریضه سرته رسوي نه داچې سرچپه په ټولنه کې منفي سوچونه او شیطاني اعمال خپاره کړي پوهان وایي: رسنۍ مثبت او منفي دواړه خواوې لري چې تري د خیر لپاره هم کاراخستل کېدای شي او د شرهم، یو قوم ته عزم، حوصله او باورهم ورکولی شي ،دذهني غلامۍ، پوځي برترۍ او کلتوري غلبې ډار هم ښکلی شي، یو ولس ته سیاسي او ملي شعور ورکوي خو د درواغو، افواهاتو په خپرولو سره هغه پخپلو عزایمو او باور شکمن کولی هم شي، داتفاق او اتحاد ناره هم پورته کوي ، دنفاق او شقاق هم، په دي وجه هغه رسنۍ چې دپردیو لپاره کار نکوي او چلونکي یې دپردو معاش خواره او مزدوران ندي باید ټولنه کې دخپلمنځي همدردۍ، اتحاد او یو والي راوستو په موخه کار وکړي، داشغال پرضد غږ پورته کړي، دافغانانو ملي او دیني مسؤلیتونه روښانه کړي، دنیکو او صالحو استعدادونو درزولو هڅې وکړي دخلکو دخیر، بري او خوشالۍ په هدف مسؤلیت اداء وکړي څو په ټوله کې یوه پاکه، سوتره، پیاوړې او سپېځلې ټولنه رامنځته شي ددې هدف لپاره داطۍ کول ضروري دي چې په ټولنه کې څه ډول تغیر راوستل غواړي؟ اونوی نسل په کوم نهج بیول غواړي؟ او په کومه مفکوره د ځوان نسل دروزنې ارداه لري؟ او هغه کوم پیغامونه دي چې دوی یې ترعامو خلکو درسولو تکل کړی ؟نن چې په کابل ، ، جلال اباد، هرات او بلخ کې دتلویزونو په پردو کومې بې لارۍ،هندي فلمونه او د بې حیایۍ محفلونو ښودل کېږي، زمونږ دملي او دیني مزاج ښکارندویه دي؟ که په مورږ دیو پردي او بې دینه کلتور دتپلو کوښښ دی ایا مورږ دغو بیهوده نشراتو ته ضرورت لرو که د سائنس پوهانو،ډاکټرانو، انجینرانو، علماوو، ادیبانو او مجاهدینو کړنو او دهغوی لاسته راوړنوته ؟ ایا مورږ یوې هدفمنې تفریح ته اړیو او که دهنر په نامه روانو خرافاتو ته؟

حقیقت دادی چې نن سبا داسلامي هېوادو درسنیو او په خاصه توګه زمورږ په هېواد کې دوروستیو تحولاتو وروسته چې درسنیو په نوم څه روان دي نهایتي مضر او بدې پایلې لرونکي دي، چې له امله به په ټولنه کې ډېر بد منفي اثرات او مضر نتایج لیدل کېږي ، خلکوته دروغ وایي، په راښوکونو تیر ایستونکو عنوانو او پروپاګندونویې ډاروي، دتفریح په نامه فحشا، لوڅتوب او بې پر ده ګې خوروې دثبات په ځای منفي کردارونو ته رشد ورکوي پر افغانانو دکفري او غربي کلتور تپلو لپاره له ګردو ناروا لارو کار اخلي.

اوږه په اوږه
وسله واله او رواني جګړه

سعد کټوازی

له هرڅه وړاندې دریو ټکو ته لیږ تم کیږو:
الف:- له دې مطلب لیکلو سره په یو وخت مې د [الحرب النفسية] نومی کتاب لاس ته ولوید، ور سره سم مې فکرته راغله چې هغه پیښې چې په اړه یې زه څه لیکم ډیره برخه یې رواني اغیزو تشکیل کړې، له همدې وجې جالبي، زیاتې د پام او تحلیل وړ دي چې پکې د غازي هیواد له غیږې اوږه په اوږه وسلواله او رواني جګړه شوې.

ب:- د ناپېیلو رسنیو بنسټ دولتي او حکومتي خبرونو او درکونو ته په لاس رسي، د بیلابیلو اندونو له پلوه د حقائقو په جلاوالي او د هغو په خپله واقعي بڼه له سانسور اولاس وهنې پرته خپرولو ولاړ وي، خو کافرانو او د هغو چوپړ یانو دغه بنسټونه له بیخه نړولي، نو ځکه نا پېیلې رسنۍ اوس وجود نه لري او په نوم ناپېیلې یې بیا بې بنسټه دي، د بیان د ازادۍ او د رسنیو د ناپېیلتوب له دعوی سربیره رسنۍ دولتي او اداري خبرونو ته لاس رسي نه لري، له خپلو رسمي اندونو پرته د هیڅا ارزونو او اندوینو ته اجازه نه ورکول کیږي، د حقائقو د سرچپه کولو او د واقعیتونو د پټولو هڅې کوي او...دا د هغوی جنګي ستراتیژي ده چې یوځل یې څه موده مخکې پرې توافق کړی و او بیا یې اوس بیا پر سیګار غږ کړی چې د تلفاتو له ارقام ښودلو دي ډډه وکړي، ترڅو هغه هم داسي محصور او تر پردو پټ وي لکه کافران او منافقین چې د دوی په وینا له یو قوي دښمن څخه د کانکریټي دیوالو شاته پټ دي.

ایا پوهیږئ دا ولي؟!! واقعیتونه ډیر ترخه دي، د ولسونو له تونډو غبرګونونو سره په مخ

کیدو یواځې پاتې کیږي، عسکر یې نه یواځې روحیه بایلې بلکې له روانې ستونزو سره هم مخ کیږي، د نړیوال غرور روژه یې پرې ماتیږي په سیمه او ګاونډ یې رعب له منځه ځي، د طالبانو مورال او د زړورتیا ګراف لوړوي او... او... او...پوره سلنه ماتې خوري.

ج:- دوی کله له ورځه تیرې اوبه هم راګرځوي، د ځیړنې په نوم د پیښې ټول ښکاره اړخونه پټوي، خو ولس او طالبان په پوره چټکۍ سره نړۍ خبره کړي، د کافرانو او د چوپړیانو یې هڅې ناکامې وخیږي، د هر اړخیز پ ستومانۍ په لیدو سره اړ وي چې یا له پیله واقعیت په ډاګه کړي یا په پای کې رواني ضربه وګالي، نو ځکه په دې وروستیو کې د پټون او اعتراف تر منځ د ګډوډې ښکار دي.

طالبانو د ۱۷کاله په تیریدو اوس ډیر زیات جګړه ایز او هراړخیز مهارتونه ترلاسه کړي، کله چې د ۴۸هیوادونو ډله ایز کافران او منافقین له پرمخ تللي غرور، وسلو، تجهیز او زهرجنو تبلیغاتو سره راغلل، طالبان هسې هم د سر په سودا جنګ ته اړ شول، خو د ښې سیالۍ او بیا بریا ته رسیدلو لپاره اړینه وي چې د اړتیا هرڅه تر مقابل لوري ښه او په مطلوب توپیر کې ولري.

طالبان بیخي د یرغل له ټولو اړخونو او هرڅه سره نابلد و او د سیالۍ لپاره یې هم په هیڅ برخه کې څه نه درلودل، ټول ولس او اسلامي امت ته د دې ډله ایز یرغل په وړاندې دریدل د فیل په وړاندې د یو میږي دریدلو بیلګه و، له همدې املې په هغه وخت کې په ولسي کچه پراخه مایوسي لیدل کیدله.

د ډله ایزو کافرانو او منافقینو له مادي ځواک پورته د متعال خدای (ج) یواځینۍ ځواک او قدرت و چې طالبانو د دین، هیواد او ملت په وړاندې د مسئولیت احساس ، توکل، انابت ، اخلاص، زغم او... هغو صفاتو په لرلو ځانته را خپل کړ چې د یو ریښتوني مسلمان او طالب په خټه کې اغښلي دي.

طالبان یوځل بیا را وپاریدل، کرار کرار یې کافران، منافقین او د هغو هرڅه لاندې باندې مالوم کړل چې دوه برخي یې تش تبلیغات و، هغه و چې د خدای (ج) په نصرت له ډله ایزو کافرانو لوړ یو هیښوونکی ځواک وګرځیدل، د پخوا څو برابره پراخ امکانات یې ترلاسه کړل، د دښمن په لیکو کې یې د نفوذ لاره ومونډله، کره یې په نښه او لوی لوی بریدونه یې پرې تر سره کړل، دوی چې به ویل ((طالبانو/د طالبانو ویاند ادعاءکړي...د حکومت چارواکې /فلانکی د دوی دغه ادعاء رد کړه/ردوي...)) پاخه اعتراف او پخلي ته رسیدلې چې اوس نه یواځې د افغان عسکرو په لیکو کې بلکې په فاسدو ادارو کې هم د طالب کسانو د شتون پخلی کوي، د ارګ په حریم کې لاهم تر ټولو خوندې ځایونو کې د

امنیت له تأمین څخه ناوسي او د خپلو تلفاتو پټول په وازکومي مني.

د مرغومي په۲۱مه د ننګرهار په اچین کې دوو با احساسه افغان عسکرو(د طالبانو پټو/ نفوذي ملګرو) یوې غونډې ته راغلیو امریکایانو باندي خونړی برید ترسره کړ چې په ترڅ کې یې د یو مشر په ګډون ۱۶کافران ځای په ځای و وژل او څونورو یې ژور ټپونه وخوړل.

خو هغه کافران څنګه د خپلو روزل شویو عسکرو له لاسه د خپلو۱۶تنانو وژنه ومني چې له روزني او هغوی ته دواک له ورکولو! وروسته د یوه اندام ګرډل کیدو هم فکرنه کاو، او دا وخت یې هیواد ته د۷۰۰ نورو روزونکو د صادرولو اعلان هم کړی، نوځکه یې یواځي د یوه سرسري ټپي کیدل منلي او په غبرګون کې یې د خپلې غونډې ۱۳ ګډونوال مړه او د۲۰په شاوخوا کې ټپیان کړي، خو د ننګرهار دوالي ویاند بیا دا هسي یوه لفظي شخړه بللې وه هیڅ ډز اوتلف یې نه و منلی.

ویل کیږي له یادو عسکرو څخه یې یو د مینه دار شینواري په نوم د عسکرو قوماندان و، ډیره جالبه ده! یاد قوماندان د طالبانو له خوا د خپل دښمن په کتار کې او د هغه په لګښت و روزل شو، د باور او ناز پوسټ (قوماندانې) ته ورسید، نور نو یواځې د دې ورځې انتظار پاتې و چې په مفته یې د مخکینو حماسو یاد را ژوندی کړ، طالبانو ته یې د۱۶کافرانو او۱۳ملیشیایې منافقینو دوژلو ویاړ ور وبانښه، د اتلولیو په تاریخ کې خپل ځان ځای او د شهادت دنګ مقام ترلاسه کړ، روح دې شاد او یاد دې تل پاتې وي.

خو د واقعیتونو او تلفاتو پټولو د جنګې ستراتیژي له مخې دوی خپله ماتې او د طالبانو لاسته راوړنې کم رنګه ښیې، نو کله چې دغه وژنه او بیاد هغو له لوري د غبرګون خبره رسنیزه شوه دوی ایله دومره ومنل چې دغه بریدګر د طالبانو کسان نه بلکې عادي عسکر و چې پرې یې هم په یاده غونډه وغورځیده او کافرانو پرې د غبرګون حق ترلاسه کړ.

کتونکې په دې اند دي چې یاد بریدګر رښتیاهم د طالبانو کسان و، د غونډې له پیله تر پایه داسي څه نه و رامنځته شوي چې د دوی ترمنځ په شخړه واوړي، او بیا مینه دار قوماندان صیب د مرکز په تاور کې د غونډې له خوږو ترخو هیڅ خبر هم نه و، له بلې خوا یې کولای شول د غونډې په مهال پرې هجوم ور وړي چې د هغو له وار خطایې په ګټه به یې زیان هم له دې درونډ اړولی و، خو د غونډې د ګډونوالو افغان ملیشیانو د ژوند ژغورنې لپاره د داسي وخت په لټه کې و چې کافران یو پلو ته وي او بیا د وتلو په وخت یو له پورته تاور څخه او دوهم یې د شا له لوري برید پرې تر سره کړ.

خوکه د دوی ادعا ومنو، نـو بیـا ور تـه دا د طالبانو تر ادعـاء ډیـر بـد او هیښـوونکی پیغـام دی، ځکه بیا خو دغو عسکرو د افغان ملي غـرور او احساس له مخې برید کړی چې لـه یـوې خـوا هـر افغـان چـارواکی، عسـکر او پـولیس لـه دې غرور او احساسه برخمن دی او له بـل لـوري یـې کافرانو هغه د نړۍ په کچـه ور زیـانمن کـړی او تر خاورو لاندي کـړی، دوی اړ دي چې اوس نـو په نه خبره هم کـافران و وژنـې او د خپـل تـاریخ نړیوال ریکارډ که څه هم د سر په بیـه وي بیرتـه ترلاسه کړي.

پـاتې دي نـه وي چـې مـوده وړانـدي د یـو افغان عسکر له ویډیو خپریدو د کافرانو له لوري د افغـان عسـکرو د ذلـت، سرټیتـې او بـدحالۍ داستان په نړیواله کچه له پراخ انعکاس او زمـوږ د مسلمان ملت لـه تونـد غبرګـون سره مـخ کـړ، نوموړی د یو ټیټ پوړي کافر عسکر لخوا ګوابښل کیږي خو دی یـې پـه خپـل کـور، حکومـت، او د وسلې لـه شـتون سره سره پـه وړانـدې پـه ډیـره ناوسۍ له ((لاس مه اچوه)) ویلو پرته څه نه لري.

طالبـانو تـه هـم د داسي پیښـو پـه اړه تـیر وضاحتونه او د دښمن له لوري متقـابلي ادعـاوي بسنه کوي، که هغه وي که دغـه اوس هـر افغـان دغه احساس اوروحیه ترلاسه کړي،د داسي پیښو د لانبه ودې لپاره با ید د هغو نوعیت پـه اړه ژور څه ونه ویل شي بلکې د خپلې جنګـې سـتراتیژي له محرماتو وګڼل شي، د هغـو د لاګړنـدي کولـو لپاره وړ فرصتونه او هغه نـوې چـاري ولټـول شي چې ورته اړتیاده.

د سیاسي برخې په اړه هم رسنیو خبر ورکړ چـې پـه ترکیـه کـې د کـابلۍ اداري او طالبـانو ترمنځ د سولې غونډه تر سره کیږي چې پـه وینـا بـه یـې مـلا عبـدالرؤف هـم پکـې د طالبـانو پـه استازیتوب ګډون کوي.

دا غونډه له دې پلوه هم دعـام ذهنیـت پـه وړاندې تیر ایستونکې وه چې د یـوې تـوطیې لـه مخې ترکیې ته وروړل شوه، خو چې طالبانو پکـې ګډون رد کړ، ټولو ګډونوالو یې هـم پکـې ګـډون ونه مانه، د غونډې یوه ګډونوال ملارؤف ته وویل چـې د طالبـانو ویانـد ذبـیح الله مجاهـد ستاسـو استازیتوب ردوي، هغه په ډیره سپین سترګۍ او بې شرمۍ وویل ((ذبیح الله مجاهد مه شوروه)).

هـو! مـې شـوروه ولي؟! د دوی لـه شرائطـو سره په نا مساعد وخت کې چې دا پـنځلس کالـه هـم چـا هغـه د سـولې پـه نـوم ښـورولي نـو د انټرکانټینینټـل د غونـډیوالو پـه برخلیـک اختـه شوي، او بیا اوس چې طالبـان روزمـره د کـافرانو او منافقینو له لوري د شهید شـویو ولسي- وګـړو له کورنیو سره دویر په ټغر ناست وي، تسـلیتونه ورته وړاندي کـوي، د کسـات اخسـتلو تابیـا یـې نیسي، او رؤف یې په ناخبري کې پـه هغـه سـوله کې استازیتوب کوي چې۱۷کالـه راسي او بیـا پـه

دغسي شرائطو کې۱۷۰۰کاله بياهم طالبان نه دي ورته ژمن نو...د انټرکانټينينټل برید هم داسي رنګ، بوی او خوند درلودل چې شاید مجاهد صیب شورول شوی و.

د انټرکانټينينټل برید د وسلوالي او رواني جګړې په برخه کې یو مطلوب ګام و، یاد برید د بیلابیلو اندونو په تناظر کې د کافرانو، کافرو ولسونو او منافقینو ته د پوره ماتې څرګند پیغام، او مجاهد ولس، طالبانو او هم نړیوالو ته یې د وروستۍ بریا زیری له ځان سره درلود.

د برید په اړه کتونکې په دې اند دي چې تلفات ټول استشهادیانو نه دي اړولي، له قربانیانو یې ځینو د رواني فشار له امله له لوړو پوړونو په ځان را غورځولو سره ځان وژني کړې ځینې نور یې د کومکي عسکرو د متقابلو ډزو ښکار شوي، د دې وروستي صنف ونډه پکې له نورو زیاته بریښي چې کومکي عسکرو نه د محاصره افرادو له کره برخلیکه خبرو، نه یې له هغو سره کوم شفر درلود او نه یې د دوی تر منځ استشهادیان پیژندل نو یې له لبه ویشتل.....د (افغان یم) په غږ سره ژغورل شویو د وینا سرچپه چې دوی د وژل شو یو شمیر کم وښود د تلفاتو ترڅنګ یې د دې شرم د پټولو هڅه هم کړې، خو دا چې بریدګر څنګه دننه شول؟ دچا په مرسته یې برید تر سره کړ؟ په راتلونکې کې یې څنګه مخنیوی کولای شو او... له رواني اړخه یې ډیر ابتر حالت ته رسولي، نړدې ده د طالبانو هوایې برید یې وبولي.

له دې یوه ورځ وروسته د داخلي دښمن د ګڼ شمیر تأسیساتو په منځ کې یو بل برید هم پسي وشو ټول کافران او منافقین بیخې بلها وارخطائیو ونیول، داسي څه یې پرې نه ښودل چې د خپلو تلفاتو او وارخطایې پټولو، د بریدونو د حجم او تکتیکونو کمرنګه کولو او د برید څرنګوالي په برخو کې یې ونکړل خو پایله یې هیڅ وه.

دې بریدونو ټولو ته ډاډ ورکړ چې: ۱:- لکه څنګه چې بریدګرو دې مصون ځای ته د امنیتي شرکت او ټولوکړیو په ناخبري کې په پوره بریالیتوب لاره وموندله په همداسي تکتیک یې له پوره ډاډ سره د هیواد په د ننه کې پلان جوړوي او تربل هر وخت ورته اسانه هم دي، نو ولي بیا هم په پردیو هیوادو کې د بریدونو پلان جوړکړي؟ په داسي حال کې چې موده مخکې رسنیو د هیواد په۵۷سلنه او اوس بیا بي بي سي په۷۰سلني د طالبانو د واک خبر ورکړ، یاد برید ګر همدلته روزل شوي و، د برید ځایونو ته یې له مخکې راسي تګ راتګ درلودلی اوښه بلد و.

۲:- په داسي حال کې طالبان د سولې تشه اوازه لا هم دومره بده مني، که ټرمپ او چوپړیان یې ورته وایې د زور له لاري مو سولي ته راولو، دوی یې د وسلې په ژبه پوهوي چې موږ د خپل

ملت د غوښتني سوله په زور ترلاسه کوو او ستاسو د غوښتنې د سولې مخه هم پر وچ زور نیسو ترڅو په همدې ترپ خرپ ولسونه را ویښ کړو چې سوله څوک غواړي، څوک یې راولي او د هغې له نوم څخه ناوړه ګټه بیا څوک پورته کوي؟

۳:- طالبانو زمونږ د مجاهد ولس او هم نړیوالو ولسونو په وړاندې د اور پکو ټرمپکو له واقعي څیري پرده په همدې یریدونو لیري کړه چې دوی څه غواړي؟

ډیر خلک نه پوهیدل چې څنګه د ټرمپ سوله او خونړۍ ستراتیژي څنګ په څنګ؟ ها د عوامو خبره طالب پیریانو لیونی ټرمپ و غږاو واقعي او رښتیا یې پر وویل چې سوله مولې نه غواړي، یواځې په دې نوم د عام وژني بریدونو ته پایښت ورکوي، څنګه؟ خپله اردو په اجیره اردو وپوښي همداسي پوښلې چاپې وهې وګړي وژني خو د طالبانو پر ګوزار اجیر وژل کیږي، په هوایې ځواک چې د طالبانو وس نه رسیږي هوایې بریدونه له پوښ پرته کوي او همدغه وګړي او ملې اردو په نښه کوي، چې په دې سره دا دواړه ګډ له منځه وړي، یو عمده دلیل یې دا دی چې د ټرمپ او فقیر غلام په وینا یې په دې بریدونو کې عام خلک او ښځې! وژل شوي دوی به یې له طالبانو غچ اخلي، طالبانو ته خو یې هسې هم لاس نه جوړیږي نو په بدله کې هم عام وګړي وژني، بس د افغانانو د سولې په نوم، افغانان وژني، له افغانانوڅخه د افغانانو په غچ کې چې له یو لوري به د خپلې ماتې غچ! واخلې او له بل لوري به خپله روزلې افغان اردو هم له منځه یوسي داسي نه چې له دوی وروسته بیاد خپل هیواد په رغونه کې د دوی په روزنه د طالبانو مټ غښتلی کړي، طالبان له پیله لا په دې پوهیدل نو ځکه یې له انټرکانټینینټل بریدونو څخه افغانان مستثنا و اوس یې نو د خلکو سر هم ور خلاص کړ.

یادو بریدونو او د ترکیې توطیوي،شرمیدلې او نا کامې ناستې کابلې ګډولې اداره له هره اړخه په ځانګړې له روانې اړخه ډیره زیاته بوږنولې، هر لوری یې ترې ورک کړی، په پټو رازونو یې ګویا کړې، اړینو پخلیو ته یې اړ ایستلې او په سخته بې باورۍ کې نښلولې ده.

د ترکیې او امریکا

د جګړې نوی ډګر

حسن زوی

هغه ترکیه چې یو وخت دامریکا ډېر مهم اتحادي او زیات معتمد ملګری ګڼل کېدلو اوس ددې دواړو هېوادونو خپلمنځي روابط ترینګلي او لاپسې دخرابۍ پرلور روان دي.

ددې دواړو هېوادونو داړیکو خرابېدل د۲۰۱۶ م کال دجولایې د۱۵ مې نېټې نه پیل شول کله چې په یادې نېټې دطیب اردګان ددولت دختمولو لپاره ترکیه کې یوه ناکامه کودتا رامنځته شوې وه چې ترکې دا دامریکا کار ګڼلو او ویل یې چې په امریکا کې مېشت فتح الله ګولن او دهغه ډله ددې کار لپاره دامریکا له لورې ګومارل شوی وه.

ترکیه وایې: پدې ناکامې کودتاکې دفتح الله ګولن دلاس لرلو ټول شواهد دترکې دولت امریکا ته وړاندې کړیدي اوله امریکانه یې غوښتي دي چې ګولن ورته وروسپاري خو امریکا دخپل عادت سره سم دترکې له لورې وړاندې کړی شوي شواهد ناکافي ګڼي او دلازیاتو شواهدو دوړاندې کولو غوښتنه کوي.

امریکا ته دترکې لومړي وزیر او دلومړي وزیر مرستیالانو دخپلوسفرونو پرمهال دامریکا دولت ته پدې اړه دشواهدو او دلایلو ډېرې غټې دوسې وړاندې کړیدي خو داوباما اداړې یې په اړه کوم دیادولو وړ اقدام نه وکړی؛ دټرمپ دراتلو نه پس ترکې بیا امریکا ته شواهد وړاندې کړل خو امریکا بیا هم دټېر په څېر دلازیاتو شواهدو دوړاندې کولو غوښتنه جاري وساتله او دترکې غوښتنو ته یې هیڅ التفات ونکړ.

دترکې ولسمشر طیب اردګان وایې چې دامریکا په غوښتنه ترکې تل امریکا ته مطلوب خلک سپارلي دي خو له دې نه پس به ترهغې مور امریکا ته څوک ونه سپارو ترڅو یې چې مور ته فتح الله ګولن نه وي سپارلی.

دترکې او امریکا ترمنځ داړیکو دهمدې خرابوالي له امله دترکې دولت امریکا ته تلونکو خپلو اتباعو ته دمحتاط اوسېدلو حکم کوي.

دترکې دباندیو چارو وزارت نه په خپرې شوې اعلامې کې راغلي دي چې په امریکا کې دتشدد په پېښو کې دزیاتوالي او دبې موجبه نیولو او زندانونو ته دلېږدلو په پېښو کې دډېروالي له امله باید ترکان په امریکا کې داحطیات نه کار واخلي.

په امریکا کې په هجوم باندې دموټرو لاریو دورخیجولو په پېښو کې هم ډېر زیاتوالی راغلی چې دا هم په امریکا کې داوسېدونکو لپاره ډېره دخطرنه ډکه خبره ده نو امریکا ته تلونکی هر ترکی باید دتلو نه وړاندې څو ځلې فکر وکړي.

دفتح لله ګولن له ډلې پرته دامریکا دولت پرعامو ترکانو تورونه لګوي ؛دنیولو او هېواد نه دشړلو لپاره یې پلمې جوړوي او دامریکا محاکم دترکانو سره دډېرې بې انصافۍ نه کار اخلي.

طیب اردګان ویلي دي چې دتروریست تنظیم"فیتو"د۲۰۱۶ م کال دجولای د ۱۵ مې نېټې دناکامې کودتا نه پس اوس بیا امریکا په ترکې کې دمېشتو لاسپوڅو په لاس له مختلفو لارو په ترکې کې دحالاتو دخرابولو هڅې کوي؛دامریکا جاسوسې شبکې سي آي ای او ایف بي آی غواړي چې دتروریست تنظیم"فیتو"په لاس بیا په ترکې کې حالات خراب کړي خو دوئ به هیڅکله هم په خپلو شومو عزایمو کې بریالي نه شي.

طیب اردګان زیاته کړه :په وروستۍ یوې نیمې لسیزې کې دترکې دټېز پرمختګ له املې دورخطایې ښکار شوې ځنې کړئ دترکې سره دحسد له املې دترکې دپرمختګ دمخنیوي هڅې کوي ؛ددوئ چې له لاسه څه پوره وي ودې یې کړي مورږ به دخپل پرمختګ سفر دلوړو عزایمو سره روان ساتو.

دیادولو وړ ده چې ترکیه داسلامي نړۍ یوائنی هغه هېواد دی چې دناټوپه نوم غربی عسکري اتحاد کې غړیتوب لري اوداهم له چا پټه نده چې ترکیه په مسلمانو هېوادونو کې دامریکا ترټولو مهم اتحادي دی خو پدې وروستیو وختونو کې دترکې او امریکا ترمنځ روابط ترینګلي شویدي چې یوائنی لامل یې دترکې هر اړخیز پرمختګ دی .

دترکې عامو خلکو دعدل او پرمختګ دګوند دمشرانو دخپل هېواداوملت سره اخلاص ، ددوئ خدمت،دفساد پرضد اوږدې مبارزې،ټولنیزو اصلاحاتو، دترکې داقتصادي پرمختګ لپاره کامیابو پروګرامونو او هڅو ته لېدلې او له همدې املې یې هرځل زیاتې رایې ورکړیدي اوترننه یې ترشا ولاړ دی .

په ۲۰۰۲م کې چې د عدل او پرمختګ ګوند واک ته ورسېد، تر ننه په واک کې دی ؛په دې ټېرو ۱۵ کلونو کې چې دې ګوند په ترکې کې کوم پرمختګونه ،اصلاحات او مثبت بدلونونه رامنځته کړل فهرست یې ډېر اوږد ؛ له تمو پورته او حیرانونکي دی.

د طیب اردګان همدې کامیابو اقتصادي پلانونو که له یوې خوا په اقتصادي لحاظ دا وروسته پاتې ترکیه په پرمختللې ترکې بدله کړه نو بل لورته یې په ولس کې د اردګان په محبوبیت کې تر ټولو زیاته ونډه ادا کړه .

واک ته درسېدلو سره سم طیب اردګان سترې ملي پروژې پیل او په عالي نظم او لوړو تخنیکي مهارتونو یې تکمیل کړې.

په ۸۰ یمې او ۹۰ یمې لسیزې کې دترکې اقتصاد دداسې سخت تنزل ښکار و چې دولت خپلو مامورینوته دمعاشاتو ورکولوتوان هم نه درلودلو؛ مامورینوته به معاشات هم د (آی ایم ایف) نومې نړیوالې ادارې نه داخستل شوو قرضونوله لارې اداکېدل .

دآی ایم ایف په نوم دیهودو نړیواله مالیاتي اداره هغه اداره ده چې دسودي قرضونو له لارې یې داسلامي نړۍ ټول هیوادونه یرغمال کړیدي ؛ ترکیه هم دهمدې هېوادونوپه قطارکې ورشامله شوی وه اوپرې ددې ادارې دقرضونوحجم ۲۴ ملیاردوډالروته رسېدلی و.

کلـه چـې پـه ۲۰۰۲م کـې اردګـان لـومړی وزیرشـونوداردګان اداړې ددې پورونـو اداکولوتـه مـلا وتړله تردې چې په ۲۰۱۲م کې یوملیارددالروته راتیټ شول ؛ په همدې کال هغه دا هم اداکړل اوترځنګ یې دا اعلان هم وکړچې لـه دې وروسته بـه مـوږ آی ایـم ایـف تـه لاس نـه وراوږدووبلکـې دنومـوړې اداړې داړتیا په صورت کې به موږ پورونه ورکوو.

اوس رښتیا هم چې ترکیه ددې وړ ګرځېدلـه ده چې ترې نوموړې اداره پورونو غوښتلو ته اړ ده.

په ۲۰۱۲ کې د ترکې اقتصاد دنړۍ دترټولو ټیټو اقتصـادونو څخـه یـو و؛ پـه نړیوالـه سـطحه دترکـې اقتصاد ۱۷م اقتصاد ګڼل کېږي خـو اردګـان په پـوره باور سره وایې چې تـر ۲۰۲۰م کـال پـورې بـه دترکې اقتصاد دنړۍ دړومبۍ کرښې په ۱۰ اقتصـادونو کې شـمېر شـي او تـر ۲۰۲۵م کـال پـورې بـه دهـر اوسېدونکی کلني عوایدلـه ۲۵ زروډالرونـه کـم نـه وي یـانې پـه اقتصـادي لحـاظ دنړۍ دترټولـو پرمختللـي هیـواد داوسـېدونکو دکلنـي عوایـدو نـه بـه دترکـې داوسېدونکوعواید کم نه وي.

پـه ۲۰۰۲م کـې دترکـې پـه مرکـزي بانـک کـې دشتوپیسو حجم ایله ۲۵ملیاردوډالروتـه رسېدلو؛ پـه ۲۰۱۱م کې ۲/۹۲ ته لوړ شو او اوس پـه ۲۰۱۶م کـې دمرکـزي بانـک پانګـه ۱۳۵ ملیـارده او۳۳۵ ملیونـو ډالروته رسېدلې ده .

طیب اردګان ښوونې او روزنې ته دومـره توجـو کړیده چې په ۲۰۰۲م کال کې په ټولې ترکې کې ۸۸ پوهنتونونـه وو خـو یـوائې پـه ۱۰ کلونـوکې یـانې د۲۰۱۲م کـال پـورې پـه هبـوادکې دپوهنتونونـو شمېر۱۸۶ ته ورسېد ؛ یوائې په یوې لسیزې کې کـابو ۱۰۰ پوهتونونه جوړول ډېره ستره کارنامه ده .

د۲۰۰۲م کال نـه وړانـدې پـه ترکې ۲۶ کـوچنې اوستر هوایې ډګرونه وو خو واک ته دطیب اردګـان درسـېدونه پـس تـر ننـه پـدې هبـواد کـې دهـوایې ډګرونوشمېر ۵۰ ته ورسېدلو .

طیب اردګان ډېرې هڅې وکړې چې دهبواد ټولې برخې دلویوسرکونو لـه لارې دیوبـل سـره وتـړې اوپه تلوراتلوکې ټولې ستونزې لـه منځـه ولاړې شـي ؛ هغه دخپل واک په مودې کې پـه ټـول هبـوادکې تـر۱۷ زره ۵ سوه کلومتروپورې نـوي سـرکونه جـوړ کـړل او په ترکې کې یې دلومړي ځل لپاره دتېز رفتار اورګاډي پټلۍ وغزولې .

او پـه اسـتنبول کـې یـې دملیـاردونو ډالـرو پـه لګښت دسمندر لاندې داسې ستر تونل جـوړ کـړ چې دځمکې له لارې یـې آسـیا داروپـا سـره وصـل کـړه؛دا تونل چې په یو وخـت کې دلاریو،مـوټرو او اورګـاډي دتېرېدو ظرفیت لري وجودته ددې تونل دراتلونه پـس ترکې ته دځمکې له لارې دسیلانیانو پـه راتلـوکې ډېـر زیـاتوالی راغلـی او دتجـارتي مـالونو پـه صـادرولو او واردولو کې هم ډېره اسـاني راغلې چې لـه املـه یـې دترکې اقتصاد ته بې سارې ګټه رسېدلې ده.

دنړۍ په کابو ټولو هیوادونو کې بـې کـاري ورځ تربلې زیاتېږي خو ترکې کې برعکس دکار مواقع ورځ تربلې ډېرېږي نو ځکـه دلتـه پـه باسـواده ځوانـانو کـې دبې کارۍ کچـه د ۱۵٪ نـه ۹٪ تـه راکـوزه شـویده او نور هم دراکوځېدو په حال کې ده.

اردګـان یـواځې دښـارونو نـه بلکې دښـارونو او اطرافو دواړو پرمختګ ته برابره توجو کړیده نـو ځکـه ددې هیواد زراعت هم دومره وده کړیده چې لـه لارې یې ملي بـودیجې تـه راتلـونکي عوایـد د ۶۲ ملیـاردو ډالرو نه اوړیدلي دي.

داپرمختګونه اوترڅنګ يې اسلامي نړۍ ته دترکې دورنېږدې کولوهڅې اوپه ترکې کې داسلام دنشأت ثانيه تېزکوششونه امريکا ته دزغم وړنه وونوځکه په پرله پسې ډول داردګان داداري اودعدل اوپرمختګ دګوند دکمزوري کولولپاره شوم پلانونه په کاراچوي .

خو خبره يوائې تر اقتصادي بدلونونو نده محدوده؛ سره له دې چې په ترکې کې دسيکولرزم رېښې پوره کمزوری شوی ندي او په ۷ لسيزو کې ترکرغېړن چتر لاندې پيدا شوي او راستر شوي ترکان لا پوره بدل شوي ندي خو له دې هم سترګې نه شي پټېدای چې واک ته دعدل اوپرمختګ ګوند درسېدلونه پس په ترکې کې داسلام دنشأة ثانيه نښې راښکاره شويدي؛داسلامي شعايرو قدر مخ په زياتېدو دی؛دسيکولرزم پرضد نفرت او اسلامي لار ښوونو ته ژمنتيا هم ورو ورو په خلکو کې ډېرېږي او دولت هم په تېرو کابو۱۵ کلونو کې داسلام او مسلمانانو په ګټه ګټ اقدامات کړيدي ؛ په ترکې داسلام اوسيکولرزم شديده مقابله روانه ده چې پکې سيکولرزم دسختې ماتې سره مخامخ دی اوداخبره اوس يقيني شويده چې سيکولرزم په خپل طبعي مرګ دمړينې پرلورپه ډېرې تېزۍ سفر رالنډوي او داسلامي بدلون څپو انقلابي شکل خپل کړيدی .

دترکې ټول مخلص مسلمانان پدې پوهېږي چې د۲۰۱۶م کال بغاوت چې په ښکاره يې دجمهوريت اوديکتاتوری ترمنځ دکشمکش شکل لرلو په حقيقت کې داداسلام اوسيکولرزم ترمنځ دروان جنګ يوه مهمه برخه اويوځل بيا ددې هېواددولس دغلام ګرځولوناکامه امريکايې هڅه ده .

اردګان په خپلوتېرودوروکې خپل ولس ته ترغيب ورکړچې دمغرب پرځای دې مشرق ته مخه کړي ؛ ولس عملاً دطيب اردګان داپېغام قبول کړيدی اوپدې اړه دښاغلي اردګان سره اوږه په اوږه ولاړ دی.

داڅه هسې تصادف نه وچې طيب اردګان درسنيوترمخه داسرائيلولومړی وزير شرمنده کړ.

غزې ته ددواګانواوغزايې موادونه ډکه دفلوټيلا سمندري قافلې استول اوپرې داسرائيلودحملې نه پس داسرائيلوسره ديپلوماتيکې اړيکې شلول هم په حقيقت کې دهغه لويديځې نړۍ اوامريکا په مقابل کې عکس العمل ښکاره کول ووکوم چې داسرائيلو د هر وحشت تر شاولاړ دي.

دغزې اوبرما دمسلمانانوپوښتنه اوپه حق کې يې اواز اوچتول ؛ په بنګله ديش کې دحکومت له لورې دجماعت اسلامي دمشرانوادعدامېدلوپه مقابل کې دغبرګون ښکاره کولوپه موخه دبنګله ديش نه دخپل سفير راغوښتل اودبې ګناه مصري مسلمانانوپه قتل عام دالسيسي داداري سره دروابطوخرابېدل ددې خبرې دليل دی چې په تېرو۱۵ کلونوکې ترکيه ډېره بدله شويده .

امريکا اونورلويديځ ته په ترکې کې دابدلون دمنلوندی نوځکه داردګان داداري پرضد دسيسې جوړوي خودامريکا ټولې هڅې ناکامېږي اودترکې نه بيا دکمال اتاترک دترکې جوړولوټول کوښښونه يې

دخاوروسره خاورې کېږي ځکه چې دولس قاطع اکثریت دسختې اواسانې په هرحالت کې دطیب اردګان ترشا ولاړدی اودکوموحاکمانوترشاچې ولسونه ولاړ وي دنړۍ یودسیسه ګرځواک یې هم له پښونشي غورځولای بلکې داخلي اوخارجي دسیسه ګریې په مقابل کې ناکام اوټولې دسیسې یې افشا کېږي .

دترکې ولسمشر پدې پوه ده چې امریکا دمسلمانو هېوادونو په نښه کولو او ځپلو لپاره پلمې جوړوي او داسرائیلو دشومو عزایمو دپوره کولو لپاره هڅې کوي.

فرانسې ته دروانېدو پرمهال طیب اردګان داتاترک پرهوایې ډګر مطبوعاتي کانفرنس ته دوینا پرمهال وویل چې داسلامي نړۍ دمهمو هېوادونو لکه ایران او پاکستان په کورنیو چاروکې داسرائیلو،امریکا او لویدیځ لاسوهنې دمنلو وړندي.

طیب اردګان دشام په اړه دامریکا په دوه مخې پالیسۍ هم سخت انتقاد وکړ او دا دوه مخیځتوب یې دامریکا لپاره دنه جبرانېدونکي تاوان سبب وګڼه.

دترکې دولت وایې چې امریکا دترکې پرپوله دکردانو دتروریست حرکت P.K.K اړوند د S.D.G په نوم نوی فوځ جوړول او مسلح کول غواړي؛ددې فوځ شمېر به ۳۰ زرو ته رسېږي او پدې نوم رامنځته کېږي چې دکردانو دسیمو نه به ساتنه او ددښمن دحملو مخنیوی به کوي؛ترکیه ددې نوې ملېشې درامنځته کېدو سره سخته مخالفه ده او دا خپل امنیت ته لوی خطر ګڼي.

طیب اردګان دامریکا ولسمشر ټرمپ ته اخطار ورکړ چې ددې نوې ملېشې دجوړولو او مسلح کولو نه دې تېر شي ګینې ترکې چې د"فرات ډال"په نوم دکامیابو فوځي عملیاتو په نتیجه کې دشام په جبرالوس او ادلب کې خپل دښمن وځپلو همداسې به دامریکا په لاس دا رامنځته کېدونکې ملېشې هم دفوځي اقدام په نتیجه کې له منځه یوسي.

ترکیه وایې چې دامریکا په لمسون کردان دشام او ترکې پرسرحد دځان لپاره دخپلواک هېواد جوړولو هڅې کوي چې ددې نوې ملېشې رامنځته کول ددې هڅو یوه مهمه برخه ده.

طیب اردګان وویل چې ددې فوځي عملیاتو پرمهال به زمور دوست او دښمن معلوم شي؛مور دخپلو ټولو اتحادیانو او دوستانو نه هیله لرو چې پدې عملیاتو کې به زمور دحمایت له لارې زمور سره دوستي ښکاره کړي؛کرد تروریستان او زمور دوستان به په یوصف کې ونه درپېږي.

اردګان زیاته کړه :دامریکا په طیارو او لویو لاریو کې چې کردانوته کومې وسلې راځي اوس هغه په تور بازار کې خرڅېږي نو امریکا چې کوم ښامار ته پې ورکوي یوه ورځ به همدا ښامار امریکا وچیچي.

ترکې اوس دامریکا په مالي مرستو دجوړې شوې همدې کردي ملېشې پر ضد دشام په عفرین ښارکې لومړی هوایې بریدونه وکړل اوبیایې پرې دروانې جنورۍ میاشتې په ۲۱ مې نېټې ستره ځمکنۍ حمله هم وکړه چې په ډېرې کامیابۍ مخ په وړاندې روان دی اوپه دریمې ورځ دترکې قواوو دکردانو ۱۵۰ فوځي مرکزونه ونیول .

ددې فوځي عملیاتودنتایجو؛ دامریکا اونور لویدیځ دغبرګونونو؛ دترکې په سیاست او امنیت یې داعېزواودلته امریکا دنویوشوموپلانونو په اړه به په راتلونکې مقالې کې خبرې وکړو . ان شاء الله تعالی .

د بند تیمور فاجعه ...

هغه چې رسنیو یې په وړاندې چوپتیا غوره کړه

معین احمد [معین]

د روان کال د سلواغې د میاشتې په نیټه امریکایي او داخلي ګډو ځواکونو د کندهار ولایت میوند ولسوالۍ په لیرې پرتې سیمې بند تیمور کې د طالبانو د ځپلو په پلمه پرولسي خلګو برید وکړ. د یاد وحشیانه برید په ترڅ کې چې د څرخکو شوبلو او پلي ځواکونو په وسیله تر سره شو یرغلګرو ځواکونو ولسي کسان شهیدان او ۳۱ نور یې له ځانه سره د بندیانو په توګه یووړو. پرهغه بر سیره یې د کلیوالو خلګو ډیر شخصي موټرونه ، موټرسایکلونه او شخصي دکانونه ویجاړ او ځیني یې قصدا په سوځوونکو مرمیو وویشتل چې اور واخلي .

پر دې ټولو علاوه داخلي ځواکونو له ډیری کورونو څخه د صندقونو د تلاشي په پلمه د هغوي نغدې پیسې او نور قیمتي اجناس هم له ځانه غلا کړل. بند تیمورسیمه چې له ډیره راهیسي ټوله د مجاهدینو تر واک لاندې ده په روان کال کې دا دښمن لومړني شپني عملیات و چې پر یاده سیمه یې تر سره او ولسي خلګوته یې د مجاهدینو د ملاتړ په جرم درانه ځاني او مالي تلفات واړول. ولې نشراتي چوپتیا؟ سره له دې چې ګډو ځواکونو د بند تیمور د ولسي خلګو په خلاف داسې جنایت ترسره کړ چې د لسګونو شهیدانو او ټپیانو او همدا راز د لسګونو نورو د اسارت لامل شوه خو پوښتنه داده چې رسنیو ولې د ګډو ځواکونو په دغه سترجنایت خوله کړه؟. کولای شو د بند تیمور د غمیزې په اړه د رسنیو د چوپتیا لامل دوه شیان وبولو: لومړی خو په مجموع کې محلي رسنۍ امریکایي اشغالګرو د خپلو کړنو د توجیه او هغوي ته د نشراتي چوپړ په غرض ایجاد کړې دي، هغوي له سره کوښښ کوي کومه موضوع چې د هغې په نشر او انعکاس کې امریکایي منافع او مصالح نه لیدل کیږي هغه که هرڅومره مهمه وي هم دویي په اړه چوپتیاغوره کوي.

د امریکا پلوه رسنیو دغه تعامل یواځې د بند تیمور په فاجعه کې نه ، بلکې په تیرو ۱۷ کلونو کې په سلګونو ځله په دیرو داسې پیښو کې چې هلته د امریکایانو په بمبار او یا د هغو په بریدونو کې ولسي کسان په ظلم او وحشت سره شهیدان

شوي وي خو دا چې د هغې پېښې په نشرولو کې امریکایي حیثیت تر پوښتنې لاندې راځي نو دوی وربانديې سکوت اختیار کړی او چې کله بلکل هغه د پټولو وړ نه وي بیا یې هغه په داسې ډول نشر کړي وي چې خبري ارزښت یې ډیر ورکم کړی وي.

دوهمه خبره دا چې د بند تیمور سیمه د کندهار ولایت مربوط سیمه ده چې هلته په مجموع کې پر رسنیو باندې د قومندان رازق خان د وحشت راج چلیږي ، چې هغه په هیڅ صورت د داسې خبرونو نشرولو ته اجازه نه ورکوي چې په هغه کې دي د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو د خلګو د مظلومیت غږ منعکس کیږي.

بند تیمورسیمه خو له کندهار ښاره په نسبتا لیري اطرافي سیمې کې موقعیت لري ، رسنۍ د قومندان رازق خان د وحشت له وجې د هغو پېښو د نشر او انعکاس جرئت نشي کولای کومې چې د ښار په منځ کې د ده وحشي وسله والو لخوا له بیوزله ښاریانو سره ترسره کیږي، دا خو لري خبره ده چې د ښار له مرکزي بهر چیرته په لیري پرته سیمه کې دي د امریکایي او دولتي وحشتګرو د وحشت خبر د نشرولو جرئت وکړي . د تیرې جدیې په میاشت کې په خوالې رسنیو کې یوداسې بوږنوونکي تصویر خپور شو چې یو سلیم الطبع انسان یې د لیدو توان نه لري، په دې تصویر کې لیدل کیږي چې د یوه انسان کړول شوي بیروحه جسد په داسې حال کې د هغه خپلوان تر لاسه کوي چې سترګې تري ایستل شوې، د مخ پوست یې اړول شوي ، شونډې او ژبه تري پریکړل شوي ، غاښونه یې مات شوي او بیا ذبح کړل شوی دی . د سیمې د عیني شاهدانو په حوالې چې یاد شخص یو عادي دُکاندار او د کندهار له دوراهي سیمې څخه د جنرال رازق وسله والو له خپل دکان څخه له ځان سره بیولی او یوه اونۍ وروسته یې په دغسي بوږنوونکي ډول د هغه جسد د ښارپه کومې سیمې کې غورځولی و. د نومورې مظلوم شهیدد شهادت پېښه هم د خالد هادي په نوم یوه سیمه ییز فیسبوکي فعال افشاء او تر خلګو ورسوله مګر په کندهار کې میشتو رسنیو تر اوسه پوري هم سکوت غوره کړی دی. د بند تیمور د ولسي کسانو د وژلو خونړۍ پېښه چې د امریکایي او دولتي ګډو وحشیانو لخوا تر سره شوې د سیمه ییزو دولتي زور واکو په دستور په قصدي ډول رسنیو تحریم کړي تر څو د دغه نشراتي تحریم په وسیله کندهاریان او په مجموع کې ټول افغانان د امریکایانو او د هغوي د داخلي ګوډاګیانو له وحشته نا خبره وساتل شي.

د اسلام غزوات او سرایا

حدیبې د صلحې وروسته ...

په تیرپسې

ابوظهیر

هغو خلکو لپاره چې حدیبه کې کومو درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارک لاس بیعت وکړ الله تعالی ورته د قید و شرط پرته خپله رضا او خوښي په لاندي الفاظو سره اعلان کړه:

لقد رَضِیَ اللهُ عَنِ المُؤمِنِینَ اِذ یُبَایِعُونَکَ تَحتَ الشَجرةِ ...

فَعِلَمَ مَا في قُلوُبِهِم ...کې یې دهغوی (صحابه وو) دزړونو اخلاص بیان کړ...

او په .... اَنزَلَ سَکِینةَ عَلَیهِم... کې

دهغوی د زړو ډاډ او یقین بیا ن کړ

چې زړونه یې باکلیه مطمئن او داضطراب نوم ونښان پکې نشته ، ښکاره ده چې دچا څخه الله تعالی راضي وي او هغه دچا په زړه طمانیت او سکینت نازل کړي دغسي شخص نه فی الحال منافق او نه فی المأل مرتد ګرځي ، احادیثو کې دهغوی ګڼ فضایل راغلي، لکه په مسند احمد کې دجابربن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي:

هغو خلکو چې دونې تر لاندې ماسره بیعت وکړله هغوی به یو هم دوزخ ته نه درومي.

او یاد ایت:

لَقَدرَضِیَ اللهُ عَنِ المُؤمِنِینَ اِذیُبَاعُونَکَ تَحتَ الشّجَرة فَعَلِمَ مَافِی قُلُوبِهِم

دا هم ښیي چې هغوی (صحابه) رښتیني مومنان ، مخلصین وو او الله جَلَّ جَلَالُهُ تري راضي، ورته خوښ او ګران بنده ګان ول

دشیعه فرقې پیروان که د [فعلم مافی قلوبهم] جمله په لږ غور سره ولولي، نو جوتوي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په څومره ښه شان سره

دهغوی (صحابه وو) دزړونو اخلاص یاد کړی دی او بل معلومیږي چې دصحابه وو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ دا عمل دتقیې پربناء نه و، بلکې په اخلاص او دنیت په صدق سره وو او د [فعلم مافي قلوبهم] وروسته دتقیې احتمال نه پاته کیږي، کله چې الله تعالی دهغوی دزړونو په اخلاص شهادت ورکړ نو ورسره د تقیې احتمال ختم شو او په [وَأَثَابَكُم فَتحاً قَرِيبَا ومَغَانِمَ كَثِيرةٍ] سره الله تعالی ورته دخیبر دفتحې، لوی شمیر غنیمتونو او دنورو فتحو وعده ورکړه او داژمنه هم معلومه شوه چې دا غنیمتونه پر کومو خلکو وویشل شول هغوی دالله تعالی مخلصین او غوره بنده ګان دي

دپاچایانو په نوم درسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لیکونه:

څنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ دحدیبې صلحه دمسلمانانو لپاره لویه فتحه او د ډاډمنتوب او اطمینان زریعه اوګرځوله، په ربنتیا هم دا دمسلمانانو لپاره یوستر فرصت او چانس ثابت شو چې پکې هغوی د ډاډ او ارام ساه واخیسته، ځکه فتح لغت کې وایي: د بند څخه پرانیستل، تردغه مهاله داسلام دعوت او تبلیغ نورې نړۍ ته نه خورشوی، دلته وخت راغی، چې دالله تعالی پیغام ټولو خلکو ته ورسول شي او هغوی داسلام عظیم الشان دسترخوان ته راوبلل شي، چې راځئ داسلام په دسترخوان کې له شته نعمتونو، میوو او ثمراتو نه خوندونه واخلئ

کومو خلکو چې دالله تعالی دین قبول کړ او راغلل داسلام دسترخوان ته کیناستل، داسلام دغوره اخلاقو، عاداتو، ادابو او فضایلو، محامدو او شمایلو هیڅ رنګ داسې نه وو چې د اسلام په دسترخوان کې هغوی تربرخمن نشول، دومره پاک، صاف، لطیف او شفاف دسترخوان چې په هغه دظاهري او باطني فحشاوو یا منکراتو دزړې اومره داغ هم ندی لیګدلی، نړیوالو دلاسونو په وینځلو او دالله تعالی دپاک نوم په اخستو تري خوراک پیل کړ، چې څنګه یوه ګولا هغو له ستونو تیره کړه په ژبو یې ورسره داسلام دمزې او دایمان دخوند څکلو شیریني محسوس کړه اوپو شول چې دروح غذا هم داده چې په دي سره روح ژوندی کیږي او دکفرو شرک دپلیتیو په خوړو سره دروح ژوندی پاته کیدل محال دی...

غرض داچې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له حدیبې په ستنیدو، چې دهجرت شپږم کال و او دذی الحجة الحرام میاشت وه، دنړۍ د

ځینو مشهورو پاچایانو ته د اسلام دعوت ورکولو لپاره دلیکونو لیږلو اراده وکړه، او ددې لپاره یې صحابه راټول کړل او هغوی ته یې په ویناکې وویل:

ایها الناسُ اې خلکو ! زه ټول عالم ته رحمت لیږل شوی یم، ټولې نړۍ ته دا پیغام ورسوئ ، الله تعالی به پر تاسو رحم وکړي ، دعیسي علیه السلام دحوارینو پشان اختلاف مه کوئ، چې کله به هغوی نیږدي سیمو ته لیږل کیدل نو راضي کیدل او که لري وطنو ته به یې استول بیا وراندي درنه تمامیده او زمکې پورې به ونښتل

صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ چې یومخ ټول مخلصین او رښتیني مومنان وو هغوی په هر سخت نه سخت امتحان کې ثابت قدم وو چې ورته په بدل کې یې د [رضی الله عنهم ورضوا عنه] زرین مډالونه دسند په توګه ورکړل شول هغوی درسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د ارشاد په ځواب کې وویل:

یا رسول الله ! پاچایانو ته په لیږونکو لیکونو مهرونه وهل کیږي ،دمهر پرته لیک هغوی دباور او یقین وړ نه ګڼي اوډیر ځلي دمهرپرته لیکونه هغوی لولي هم نه....

رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ دصحابه وو دا مشوره قبوله کړه اوځان لپاره یې یومهر جوړکړ، د کوم حلقه چې دسپینوزرو وه او غمی یې هم دسپینو و ، صنعت یې دحبشو و وراندي یې [محمد رسول الله] وکښل، ترټولو ښکته [محمد] لفظ ، ترټولو بره [الله] لفظ او [رسول] لفظ په منځ کې و (طبري تاریخ ۳ټوک ۸۴مخ ، زرقاني ۳۳۴مخ، ۳ټوک)

سلاطین او پاچایان یې دالله تعالی لورته دعوت کړل او په دي علاوه یې هغوی ددینه هم خبر کړل چې د هغوی د رعایاوو دګمراهۍ مسؤلیت د دوی په غاړه دی

واقدي وایي: دا لیکونه د۶م کال ذی الحجة الحرام میاشت کې ولیږل شول او ځیني اهل سیر وایي: دهجرت په ۷کال یې واستول ممکن د ۶م کال په پای کې یې دلیکونو استولو هوډ کړی وي او په ۷کال کې یې استولي وي (مدارج النبوة ۲ټوک ۲۹۴مخ).

او امام بیهقي وایي: دموتی غزا نه وروسته یې استولي البته ټول په دي خبره اتفاق لري چې دنړۍ دپاچایانو په نوم لیکونه دحدیبې دصلحې وروسته او دمکې دفتح وړاندې ترسره شوي ....

دټرامپ کلنۍ وینا

له باټو او اپلټو ډکه وه!!

عبید ـ تنویر

دامریکاولسمشر «دونالد ترامپ»دسه شنبې په شپه د امریکاکانګریس ته په خپله ډومبنی کلنی وینا کې چې ټول ټال ۸ دقیقې اوږده شوه زیار وویست چې په خپلوخبروکې ځان دیوه فاتح په ډول امریکایي ولس ته معرفي کړي او کومې وعدې یې چې په انتخاباتي کمپاین کې کړې وي په هغو ځان په ټول تللی او وفادار وښیي.

ټرامپ دخپلوداخلي اوبهرنیو پرمختیاوو په پارله ګانګریس څخه وغوښتل چې پوځي بودیجه یې نوره زیاته اوپراخه کړي اوشاوخوا ۱.۵ټریلیون ډالرورته منظورکړي ترڅودامریکا اتومي اودفاعي ځغل نورعصري اوددە په خبره دخپلو سیالانو سترګې پرې وبریښوي.

دامریکاولسمشردځان اوامریکایانولپاره لوی بری دایادکړچې له ژمنې سره سم یې بیت المقدس داسرائیلو دپلازمینې په توګه په رسمیت وپیژانداودیهودانوزډونه یې وګټل ، ټرامپ افسوس ښکاره کړچې لسګونو هیوادونو دامریکا په مالیاتو او مرستو له لسیزو راهیسې مزې کړي ؛ خوچې کله په ملګروملتونوکې دبیت المقدس موضوع راغله نو دغو هیوادونو رایه د امریکاپه مخالفت کې وکاروله، لدې ورسته به هغو هیوادونو ته هیڅکله مرسته ورنکړی چې د امریکامخالفت یې کړی

ټرامپ په دې ادعا سره چې په نړی کې له یاغي دولتونولکه چین، روسیه ، شمالي کوریا، ایران او دده په اصطلاح له ترهګرو!

ډلوسره په مقابلې بوخت دی لکه داعش اوالقاعده نو د امریکادفاع وزارت ته دنده سپاري چې د ګوانتانامو زندان پرانیستي وساتي .

دامریکا ولسمشر دشمالي کوریا رژیم بې رحمه اودامریکالپاره لوی ګواښ وباله چې مخنیوی اوراپرځول یې خپله دنده وبلله، ټرامپ ونزویلا او کوبا هیوادونو باندي دنورو اقتصادي بندیزونو دلګولو او ټینګولو هم هوډ وکړ، دغه راز یې ووئیل چې له ایران سره داتومي وسلو د مخنیوی ترون ناقص اوهغه ته د منلو وړندی اوچمتو دی چې ترینه ووځي.

ټرامپ په مشخص ډول افغانستان یادکړ چې له طالبانو سره سوله اوخبري نه کوي لدې ورسته به دنوو جنګي قواعدوله مخي جګړه پرمخ بیایي داخبره به چاته نکوي چې څومره پوځیان به یې دځومره وخت لپاره هلته اوسي.

دټرامپ دوینا په وړاندې دامریکایی ولس او نړیوالې ارزونې متفاوتې وي

دسی ان ان دځیړنې له مخې دامریکا ۶۰ فیصده خلکو دټرامپ کلنی ویناو چې باټې اوځان ښودنه وبلله ټولې خبرې یې د تیریوه کال وی دراتلونکي لپاره پکې کوم هوډ اوپیغام نه وو موجود

امریکایی سناتور برنی سندرز په خپل ټویټرپاڼه کې لیکلي: ټرامپ دې ځواب ووایي چې دتیریوه کال په اوږدوکې ولې د۳ تنو مشهورو مالدارانوپه سرمایوکې ۶۸ ملیارده ډالر زیاتوالی راغلی چې یو پکې خپله ټرامپ دی.

په کانګریس کې ددیمکرات ګوند مشره (نانسی پلوسی) ټرامپ ته په خطاب کې ووئیل: تا امریکایي پوځ په افغانستان کې داورلمبو ته نور ورټیله کړ، اروپا دې دامریکا سیالی اودښمنی ته راوپارولې ، چین اوروسیې ته دې په لوی لاس ددې زمینه برابرکړه چې دخپل قدرت عملي نمایش ته متې بډوهي .

دچين هيواد په واشنګټن کې دخپل سفارت له لارې په يوه خپره شوي اعلاميه کې وئيلي ، دټرامپ سياست اوستراتيژي دنړۍ اوچين لپاره سوله ئيزه نده ،بلکي په کش مکش اوکرکي ولاړه ده چې ګټه نشي کولای

دروسيی دبهرنيوچارو وزارت په خپلې اعلاميې کې دټرامپ خبرې اولهجې ناسنجيده يادي کړي ټينګارې کړی چې امريکادیکتازی په تصور اوتګلاره امريکايي ولس ته ګټه اونفع نشي رسولای اونه نړۍ ته دغه ډول خودسری اوسرتمبه سياستونه دمنلوو ړ دي.

له بل اړخه دافغانستان اسلامي امارت هم په خپله يوه اعلاميه کې دټرامپ کلنی وينا چې افغانستان ته يې هم دجنګ اوبدبختيوداوړدولو هوډکړی په کلکه غندلي

ذبيح الله مجاهد رسنيوته دنومورې اعلاميی ځيني ټکي ليږلي چې پکې راغلي

ډونالډ ټرمپ او جګړه غوښتونکي پلويان يې بايد په دې پوه شي، چې هر عمل بالمثل عکس العمل لري، که تاسو په جګړه ټينګار کوئ؛ نو زمونږ مجاهد اولس مو هم په ګلانو هرکلی نه شي کولای. زمونږ ملت د کبرجنو يرغلګرو د لارې ته راوستلو اوړد او پرتمين تاريخ لري، جګړه به يوازې د جهادي غبرګون څپې تونديې کړي او د امريکايي پوځيانو ځاني او مالي تلفات به څو برابره زيات شي.

ټرمپ بايدپوه کړل شي چې دلته د وسايلو جګړه نه ده، بلکې د حق او باطل ترمنځ جګړه ده، داشغال په مقابل کې دازادی غوښتلوجګړه ده، داچې زمونږ داعيه برحقه ده مونږ به حتما بريمن کيږو او د الله تعالی په نصرت سره به افغانستان ديوې بلې امپراتوری هديره ګرځي.

❊❊❊

هنده

دنتن یاهو سفر، موخې او ارادې

حسن زوی

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دعاصب اسرائیلي دولت لومړی وزیر بن یامین نتن یاهو دروانې جنوری میاشت په دوهمې لسیزې کې د ۱۳۰ کاروباري افرادو په ملتیا د هند په اوږد ٦ ورځنې سفر تللی و چې دهند دولت سره یې ددفاع،سوداګری،انرژی، کرهنې، ټیکنالوژی، خلائې مرستې او شریکې فلم جوړونې په شمول ګڼ ټرونونه وکړل.

هند ته له روانېدو وړاندې نتن یاهو ویلي وویل چې دیو نړیوال مهم ځواک سره د روابطو دمضبوطولو لپاره دا سفر ډېر اړین و او پدې سره به داسرائیلو امنیت، سوداګری، اقتصاد، سیاحت او صنعت ته ډېره ګټه ورسېږي.

پلان دا و چې دنتن یاهو استقبال ته به ترهوایې ډګره دکابینې کوم وزیر ځي خو دهند لومړي وزیر داسرائیلو سره دزیات اخلاص او دوستۍ نښکاره کولو په موخه ددیپلوماسۍ د دایرې نه وروت او پخپله ترهوایې ډګره ورغلو چې پدې کار ترې دنتن یاهودفتر ډېره مننه نښکاره کړه.

پر هوایې ډګر داستقبال نه پس مودي دخپل عکس سره یوځای پرټوېټر په خپل جاري کړي پیغام کې لیکلي و چې ځه هند ته په راتلو نتن یاهو ته هرکلی وایم؛زما دوست نتن یاهو!هند ته ستاسې سفر تاریخي او ځانګړی دی؛ددواړو هېوادونو دوستي به پدې سفر نوره هم ځواکمنه شي.

بې له شکه چې پدې وروستیو کلونو کې دهند او اسرائیلو اړیکې ډېرې جوړې او مضبوطې شویدي او اوس دا دواړه هېوادونه مهم اتحادیان ګرځېدلي دي.

حال دا چې په پیل کې ددې دواړو هېوادونو اړیکې خړې پړې وې.

په۱۹۴۷ م کې چې دفلسطین په قبضه شوې ځمکې کې داسرائیلو په نوم عاصب هېواد رامنځته شو نو هند داسرائیلو دوجود نه خپل حمایت نه و ښکاره کړی بلکې ظاهري حمایت او ښکاره خواخوږي یې دفلسطینیانو سره وه؛ د ګاندي نظر دا وچې دیهودو دعوه او دلته ددوئ ددولت وجود پرځای دی خو پرمذهبي بنسټ د فلسطین ویش سم کار ندی؛همدا و چې په ۱۹۴۸ م کال کې دملګرو ملتونو په اداره کې دفلسطین دویش په اړه په رامنځته شوې ټولپوښتنې کې هند خپله رایه دویش پرضد وکاروله.

د۱۹۵۰ م کال دستمبر په ۱۸ مې نېټې هند اسرائیل په رسمیت وپېژندلو او دهغه مهال لومړي وزیر جواهرلال نهرو په خپلې رسمي وینا کې ویلې و چې اسرائیل دځمکې پرمخ یو حقیقت دی چې پردې حقیقت له اعتراف کولو پرته مور بله لار نه لرو؛مور پردې حقیقت لا له وړاندې اعتراف کړی و خو دعربو هېوادونو سره ددوستۍ له امله او ددې لپاره چې ددوئ احساسات مجروح نه شي مور ددې حقیقت اعتراف نه کاوه.

په همدې کال چې هند اسرائیل په رسمیت وپېژندل په ممبۍ کې ورته دقونصلګرۍ دپرانستلو اجازه هم ورکړل شوه.

اسرائیل دهند له لورې په رسمیت وپېژندل شول خو ددواړو هېوادونو اړیکي هسې تش په نامه وې.

ددې لپاره چې دخلیجي هېوادونو سره دهند په جوړ دوستۍ او ښو اړیکو کې خلل رامنځته نه شي او دنړۍ او هند مسلمانان دهند نه خوابدي نه شي هند داسرائیلو سره اړیکو ته پرانښوالی نه ورکولو او تر ۱۹۹۰ م کال پورې خبره همداسې روانه او روابط هسې تش په نامه وو.

د ۸۰ یمې لسیزې په پای کې چې شوروي اتحاد په افغانستان کې دماتې خوړلو له امله ټوټه ټوټه شو نو دشوروي اتحاد دګڼو ملګرو ترڅنګ هند هم دلویدیځ سره دخپلو روابطو دپراخولو او ورته دځان ورنېږدې کولو هڅې پیل کړې چې پدې هڅو کې دبریالیتوب لپاره داسرائیلو سره دروابطو ښه کول اړین و نو د ۹۰ مې لسیزې په پیل کې ددې لپاره کار پیل او د ۱۹۹۲ م کال په جنورۍ میاشت کې ددواړو هېوادونو تر منځ دباقاعده دیپلو ماتیکو اړیکو نوی باب پرانستل شو؛په ۱۹۹۹ م کال کې چې په هند کې دبي جي پي ګوند حکومت قائم شو نو ددواړو هېوادونو دیپلو ماتیکې اړیکې ډېرې قوي شوې او ددواړو هېوادونو ټول پټ ټرونونه هم رابښکاره کړای شول او کله چې دکارګل جنګ کې هند دماتې سره مخامخ شو نو دهند په دفاعي نظام کې داسرائیلو رول ډېر زیات شو.

په ۲۰۰۰ م کال کې جسونت سنګ دهند لومړنی دباندنیو چارو وزیر و چې اسرائیلو ته یې سفر وکړ او په ۲۰۰۳م کال کې اپریل شارون داسرائیلو لومړنی لومړی وزیر و چې هند ته په سفر ولاړ؛هند ته په راتلو د اپریل شارون ډېر درونـد اسـتقبال وشـو؛په نوي ډیلي کې دانډیاکیټ پـه نـوم سـترې دروازې باندې دهنـد او اسرائیلـو بیرغونـه رپانـد وو او دهغـه وخـت لـومړی وزیـر اټـل بهاري واجپائي دشارون دا سفر ددواړو هېوادونو اړیکـو دمضـبوطوالي او پراخـوالي عمده پیلامه وګڼله.

په ۲۰۰۶ م کې دهند دکابینې دوزیرانو ،دایالتونو دوالیـانو، جورنالسـتانو او دمختلفـو ټـولنیزو ادارو دنماینـدګانو شریـک لـوي وفد اسرائیلو ته سفر وکړ چـې داوس وخـت لـومړی وزیرنریندر مودي چې هغه مهال د ګجرات والي و هم ددې وفد له برخوالو څخه و.

ددې سفر نه پس په هند کې دالوي بدلون رامنځته شو چې داسرائیلو دوحشت او مظلومو فلسطینیانو په حمایت کې کوم اواز دهند نه پورته کېدلو هغه ډېر کمزوری شو.

په تېرو انتخاباتو کې چې بهارتیه جنتاګونـد بریالتوب ترلاسه او نریندر مودي ددې هېواد لومړی وزیـر شـو نـو داسرائیلـو لـومړی وزیـر نتن یاهو دنړۍ له لومړیو دولتـي مشرانو څخه و چې مـودي سره یـې تلیفوني تماس ټینګ او ورته یې مبارکي وویله.

مودي امریکا ته دسفرپرمهال داسرائیلو دلومړي وزیـر نـتن یـاهو سره جلا اوږد مجلس وکړ چې لـه هغې وروسـته اسرائیلـو تـه دهنـد ددولتي مشرانو تلل زیات شول.

دکورنیـو چـارو وزیـر راج نـات سـنګ او دبهرنیـو چـارو وزیـرې ششماسـوراج پـه شـمول ۱۲ وزیرانـو ۲ ځلـې اسرائیلـو تـه سـفرونه وکړل؛دکابینې ددې وزیرانو ترڅنګ دهند ولسمشر پرناب مکرجي هم د ۲۰۱۵ م کال په اکتوبر میاشت کې اسرائیلو تـه سـفر وکړ چې هـورې یې ډېر درونـد اسـتقبال وشـو دا اسرائیلو ته دهند دکوم ولسمشر لـومړی سفر و.

هند دنړۍ یواځنې هغه هېواد دی چې داسرائیلو نـه ترټولـو زیـات عسـکري وسـایل پیري؛دسرحـداتو دحفـاظتي نظـام؛ملي امنیـت او دتروریزم دمخنیوي په هکله دهند او اسرائیلـو تـرمنځ اشـتراک شـتون لري؛ اوس هند اراده ښکاره کړیده چې لـه اسرائیلوبـه ۱۱۳ ډولـه هغـه توغندي چې له ځمکې هوا ته توغول کېږي .

دمالداری ،کرهنې؛دشاړو ځمکو دآبپاری؛ساینس او انجـنری په ځانګو کې ددواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزې مرستې مخ په زیاتېدو دی.

په نړیواله سطحه داسرائیلو داوسنی کاملې تنهایۍ پدې شپو ورځو کې هم دامریکا نه پس هند داسرائیلو ترټولو لوي اتحادي ګڼل کېږي.

په ۱۹۹۲ م کې ددواړو هېوادونو ترمنځ دکلنۍ سوداګرۍ حجم ایله دوه سوه ملیونو ډالرو ته رسېدلو چې په ۲۰۱۶ م کال کې دا ۴.۱۶ملیاردو ډالروته لوړ شو چې په دې چې دا داسرائیلو دټول کلنۍ تجارتي حجم چې ۴۰ ملیارده ډالر کېږي په پرتله کم دی نو ځکه دواړه هېوادونه خپلمنځي تجارت ته وده ورکول او ددواړو هېوادونو ترمنځ ازاد تجارت رامنځته کول غواړي چې پدې اړه دټرون رامنځته کول دنتن یاهو دسفر یو مهم هدف دی؛پدې اړه دپخواني لومړي وزیر من موهن سنګ دواکمنۍ پرمهال په ۲۰۰۷ م کال کې هند اعلان کړی و ددواړو هېوادونو ترمنځ پدې اړه په ۲۰۱۰ م کال کې خبرې پیل شوې او تراوسه دې دواړو هېوادونوددې لپاره ۹ کرته ناستې کړیدي.

دا چې اسرائیل او هند دواړه اوس دامریکا مهم اتحادیان دي دروسې او چین دنفوذ دمخنیوي لپاره ددې دواړه قوي کېدل او یوبل ته نېږدې کېدل دامریکا غوښتنه ده نو خامخا به پوره کېږي .

داسلام او مسلمانانو سره ددې دواړو دښمني هم ددې دواړو هېوادونو دزیات قرب سبب دی خو کله چې اسلامي نړۍ داوس په ځېر کمزورې نه وه نو همدې اسلام دښمن هند داسرائیلو سره دروابطو دښه کولو نه ځان لرې ساتلو؛ اوس چې اسلامي نړۍ عموماً او عربي نړۍ په ځانګړي ډول په سخت کمزوري حالت کې ده نو هند یې دخفګان پرواه نه لري او سره له دې چې په هند کې دننه هم یوشمېر دبشر دحقوقو ادارو دهند دې کار سره مخالفت ښکاره کړی خو دمودي اداره ښه په سپین سترګې داسرائیلو سره روابطو ته وده ورکوي او دا خپل لوي بریالیتوب ګڼي.

خو هند باید پدې پوه شي چې امریکا په نړۍ کې تر ټولو بې اعتماده دوست دی لکه ځرنګه یې چې دخپلې اړتیا او خپل مطلب پوره کېدونه پس خپل ډېر دوستان په نیمه لارکې پرېښي دي همداسې به هند هم پرېږدي نو هند چې د امریکا د خوشالولو او د لږو مادي ګټو لپاره اسرائیلو ته ورنېږدې کېږي اوپه ټوله اسلامي نړۍ کې ځان منفورګرځوي دا ورته ښه سودا نه ده .

مفتي محمد ګل سعيد

د غير الله مزدوران

الله تبارک وتعالی دپنځمې سيپارې دسورت النساء په ۱۳۹ آيت کې فرمايی:الذين يتخذون الكافرين اولياء من دون المؤمنين ايبتغون عندهم العزة فان العزة لله جميعا.

ژباړه:دوی هغه کسان دي ،چې نيسي کافران دوستان بې له مؤمنانونه اولټوي په نزددکفاروعزت بيشکه چې عزت الله لره دی.

الله تعالی مسلمانانوته داحکم فرمايلی،چې دکفاروسره دوستي مه کوئ ،ځکه چې دکفارو د دوستۍ پايله ډيره بده وي اوهيڅ فايده اوګټه ترې نه حاصليږي.استعمارچې کله يواسلامي هيوادته لاړشي،نودهغه هيوادمسلمان وګړي دخوپيسوپه مقابل کې استخدام کړي،ترخواستعمارخپل قوانين هلته پلي کړي،په همدې توګه دډيروخت لپاره اسلامي خاوره دهمدې مسلمانانوپه مرسته په خپله ولکه کې وساتي، خومسلمانان بياله دوی سره دکارکولولپاره دجواز دلايل وايی،څوک وايي زه خوملکي اداره کې کارکوم،څوک وايي زه خودوطن خدمت کووم ،څوک وايي زه خوداولاددنفقې فکرکې يم ،بهانې لټوي،ځينې بياپه مقابل لوري مجاهدينوکې عيبونه لټوي اودځان لپاره يې له کافرسره دکارکولولامل ګرځوي.ځينې نوروبياپه نظامي ډګرکې دکافردغلامي طوق په غاړه اچولی وي اوتردې حده پورې کافرانوته وفادار وي،چې کله هم دصليبيانواو مجاهدينوترمينځ جګړه وي ،نودغه مسلمانان رامخکې شي اودقرباني دګډ په څيرځان ترينه قربان کړي اومړشي.دغه دصليبيانوملګري بيادخپلو مسلمانانوورونوله وژلو، توهينولو، بندي کولوهيڅکله مخ نه اړوي،تردې چې دکافرپه مرسته اونصرت سره دخپلو مسلمانو ورونوپه مقابل کې ودريږي.زموږخوږ پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم موږته داحالات داسې بيان کړي دي:ابن عساکرپخپل تاريخ کې له يوصحابي څخه روايت کوي،هغه وايي ماله رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي،چې فرمايل يي:ليت شعري،کيف امتي حين يتبخترجالهم ويمرح نساؤهم وليت شعري کيف أمتی حين يصيرون صنفين ،صنفا ناصبين نحورهم فی سبيل الله وصنفا عمالالغير الله . (ابن عساکر۴۰۱/۲۰)

ژباړه:کاش چې خبروای چې زماوروسته به زمادامت څه حال وي؟هغه مهال چې نارينه يې په کبراوغرورکې وي اوښځې يې په تکبرکې (په بازارونوکې)ګرځي اوکاش چې خبروای ،چې زمادامت څه حال به وي هغه مهال چې دوه ډلې شي،يوه هغه ډله چې دالله په لارکې خپلې سينې سپرکړي اوبله هغه ډله چې دغيرالله مزدوران وي.

نـن سـبايقيناچې دامـت همداسـې حـال دی،پـه تيرودريولسيزوکې زمونږپه گران هيوادافغانستان درېـو نړيوالو طاغوتي قوتونويرغل وکړ اودهريرغل په مهـال دوه صفونه جوړشول،يوه صف دالله تعالی لپـاره قربـاني ورکوله،بل به دانگليسانو، کمونيسـتانو اوصـليب لپـاره قربـاني ورکولـه، زمونږدهمـدې هيوادمسـلمانان ورسره ديوځورووپيولپاره ملگري شول،خوالله دوی ټول له ذلت اوشکست سره مخ کړل.لومړی تاړاک دانگليسانوؤ، له هغـوی سره دهنـدځينې مسـلمانان چـې دانگليسـانو مزدوران و، هغوی هم ملگري ؤاودشاه شجاع په ځيـر مـزدور افغانـان هـم ورسره ملگـري ؤ.دهمـدې هنـدي مسلمانانو، افغاني مسلمانانو او انگريزانوبه يوصـف ؤ، بل لوري ته به دالله تعالی په دين مينو افغانانوبـل صـف جـوړکړی ؤ، بيادشـوروي يرغـل پـه مهـال خلقيـانو او پرچميـانو دروسـانوپه پلـوي اوحمايـت دمسـلمانانوپه خلاف صف جوړکړ او اوس خو مورږ اوتاسې وينوچې څوک له صـليب سره ولاړدي اوځـوک دمسـلمانانو پـه صف کې ولاړدي. پـه دې حـديث شريـف کـې دعـمال لفظ راغلی دی،يعنې عمال لغيرالله نو باور وکړئ ،چـې اوس مهـال مسـلمانان همداسـې دصـليب عـمال دي،څوپيسې ترينه اخلي اودسوچه مسلمانانوپه خـلاف جگړه په داسې حال کې کوي،چې د صليب په خـدمت کې ځان هم ورته په حقه ښکاري.نوريښتياهم درسـول الله صلی الله عليه وسلم له ارشادسره سم زيات مسلمانان دکافرپه صف کـې ولاړدي، لـه کـافرسره مرسـته کـوي ،دمسلمانانوپه خلاف جگړه کوي،او داسې ناوړه اعمال ترسره کوي ،چې له کبله يې لـه اسـلامه جـوپې جـوپې وځـي اوکـافرگرځي.خوالله الحمـددې هيوادريښـتيني بچيـان مـرگ ژوبلـه ،بـې کوري،لـوړه اوتنـده پرځـان مني،خوښکيلاکگروته هرگزنـه تسـليميږي اوداسـارت ژوندته هيڅکلـه غـاړه نـه ږدي.دهرجابر،ظـالږ ،قاتـل اوښکيلاکگرپه مقابـل کـې دخپـل گـران هيوادپـاکې خاورې دخپلو هيوادوالو د ابرو، حيا،عزت ، خپلـواک ژوند اوداسلام دمقدس ديـن دبقـاء اوارتقـاء پـه خـاطر هرډول قربانۍ ته تياردي،هيڅکله بهرنې ښکيلاکگر ته پـه خپـل هيـوادکې داوسـيدلواوپاتې کيـدواجازه نـه ورکوي. پـه پـای کـې لـه مسـلمانانوځوانانوڅخه مـې داهيله ده ،چې کفري ښـکيلاکگردخپلوهيوادونوڅخه وشـړي اوټـول اسـلامي هيوادونوتـه دښـکيلاکگرو داشـغال، تسـلط اوحاکميـت نـه نجـات ورکړي،چـې دافغاني اونورې اسلامي نړۍ موجوده اوراتلونکي نسـل دښـه، سـوکاله اوارام ژوندځښـتنان شي او دخپلوټولنـو دپرمختـگ لپـاره داسـلامي معنوياتوتـگ لاره تعقيـب کـړي، ترڅـو دټولواسـلامي هيوادونواسـلامي ټـولنې موجوده او راتلونکې نسل دکفارو، يهوديانو، عيسايانو ښکيلاکگرو دجال اودام نـه دتـل لپـاره نجـات حاصـل کړي اودخپـل اسـلامي مقدساتواوداسـلامي ثقافـت پـه تاييداوتطبيق دژوندانه ترپايـه دخپـل هيـواد داسـتقلال ،خپلواکۍ،ازادۍاودهيوادوالودارام ، هوسـا اوسـوکاله ژونـدلپاره پـه هروخـت اوزمـان کـې خپـل مشـروع فعاليتونوته خوراسرعت، وسعت اوپراختيا ورکړي.

اسـتعمار وپيـژني داشـغالگرو اوښـکيلاکگرو دنامشروع اوغيرانسـاني فعـاليتونومخنيوی وکـړي ،مـلي وحدت ،امنيت،اواسلامي مقدس قانون په ټوله اسـلامي نړۍ کې نافذاوتطبيق شي.

د مورچل وږمۍ

عزم

(حافظ مستغفر عنصري)

ځمه دلمر لوڼې وکورته مېلمنې راولم
تياره کونجانو دجونګړې ته وړانګې راولم

يو څو تسبيح او يو قلم څو کاغذونه مې را
نور مسافر له شوګيرو شومه غرمې راولم

مازيګر لاړی سپېدې نشته سهار وځنډېدی
تورې ماڼۍ دسپين فراق ته زلزلې راولم

ماله سرو سره وعدې دي د پګړيو کړې
په لوړ همت يې درڼا شخې شملې راولم

له تنکي زړه نه مې دصبر بخۍ وسپخېدې
نور دتکل پر نيلي سپور شوم پنجرې راولم

ټومبم غزلې پکې چوم دغرض تڼاکې
دمستغفر قلم يم خولې ته غلبلې راولم

مستغني

سپوږمۍ مې مخ وچاوه

زه چې وم سرستا په ګريان سپوږمۍ مې مخ وچاو
اوښکي مې تلي باران باران سپوږمۍ مې مخ وچاو

بوټيو ليدم کاڼو ليدم چي ماسلګۍ وهلي
ستوريو ليدم دشنه اسمان سپوږمۍ مې مخ وچاو

غم دي شو خپور لکه وريځ سترګي مې وه اورېدې
اوښکو مې واخيستۍ ګريوان سپوږمۍ مې مخ وچاو

داندېښنو په سيلاب غرق وو بي اسرې ښکاريدل
زما د ژوند هريو ارمان سپوږمۍ مې مخ وچاو

دحال په ژبه مي ويل نور ددنياله مخي
دمتانت څلی شو وران سپوږمۍ مې مخ وچاو

دخطرزنګ وو دغمونو انګازه خپره وه
ورته ولاړ ومه ناتوان سپوږمۍ مې مخ وچاو

لکه يتيم زبون وهلی پټه خوله مي ژړل
دمرګي غږوو دجانان سپوږمۍ مې مخ وچاو

ته که هلال شې او که بدر ، که قمرشي سپوږمۍ
هيربه دي نه کړمه احسان سپوږمۍ مې مخ وچاو

له مستغني سره دپوري غره سرونو ژړل
ټولو ويل قربان قربان سپوږمۍ مې مخ وچاو.

دجنت بوی

محمد علیم بسمل

دتـا لـه سـترگو دیقـین اوایـمان بـوی راځـي
د مـخ لـه گـل نـه دې زمـا د ارمـان بـوی راځـي
یعقوبـه! زیـری مـې دربانـدې هجـران کـډه کـوي
کاروان نړدې شو، او ورو ورو د جانان بوی راځي
د خدای په لار کې په ما داسې ونې سیوری کړی
چې له پټکي یې د گلاب او ریحان بوی راځي
پـه دې کوشـه کـې د مـین سـړي زره چـاودلی
چـې د نیمگـړي، سـوځیدلي ارمـان بـوی راځـي
سړی جنت ته ورنږدې شي، د ښوخلکو څنگ کې
او کـه لـه دوی د جنتیـانو پـه شـان بـوی راځـي
بسمل چې کله له خپل شعر سره محفل تـه راشـي
د گلبشـړې او خـوارکي طالـب جـان بـوی راځـي

تـتر وهي

(فیضاني)

څـوک چـې مسـلمان سره تټـر وهـي
هسـې لـه توفـان سره تټـر وهـي
سـتره نـاپوهي او لپونتـوب بـه وي
هـر څـوک چـې اسـمان سره تټـر وهـي
څنگـه بـه پـه چیغـو چیغـو نـه ژاړي
هغـه چـې افغـان سره تټـر وهـي
خـود بـه تـرې د تبښـتې لاره ورکـه وي
ولـې طالـب جـان سره تټـر وهـي
ریـز مریـز شي تـول جهـان تـه شي عـبرت
کـوم چـې لـه رحـمان سره تټـر وهـي
روغـه ورځ بـه نـه وینـي پـه تـول عمـر
دا چـې لـه ایمـان سره تټـر وهـي
وخـت د هلاکـت یـې نیـږدې شـوی دی
بیـا کفـار قـرآن سره تټـر وهـي
گـوره (فیضـاني) دا څـو خـر پـر غازیـان
تـول کفـري جهـان سره تټـر وهـي

د کابل د فدایانو په یاد کې

حافظ محمد عزام

غـزاوه مسـته مسـته د فـدا جانـان گـوزارو
په تـورتم کې رانښکیل ونیمـه شپه کې ترسهارو

دمینـې پیوسـتون و داورو سـره وې لـوبې
عاشـق د حورو غېږتـه ورلو بدلی مسـت خمـارو

وشـرنگ د سپینو تـورو د صلیـب پـه ځالگیـو
سرونـه وو غـوڅ شـوي د صلیب خونې ښامـارو

لیـلا د آزادۍ موسکا راوړې وه پـرشـونـډو
مجنـون ورتـه راوړی پرسینه بانـدې پـرهـارو

سـلام اتلـولي تـه د سـپېڅلو فدایانو
خونخوار غلیـم یې څنگه پرځـولی په تلوارو

نصـرت د ذوالجـلال وعجیبه غونـدې حالـت و
د هر ظالـم سینـه بانـدې چې ښـخ د غشـووارو

پـرون چې مو پـه چم کې ښکار بدل د غـه ګلونـه
عَـزّامـه نـن جوړپـه هریـوه بانـدې مـزارو

جنګي جنایتونه (جنوري)

سید سعید

د۲۰۱۸ز، کال دجنوري په ۲مه نیټه دهلمندولایت دګرمسیرولسوالی‌دسفار په سیمه کې پر یوبازار یرغلګرواو داخلي عسکرو چاپه وهلې، ګډو ځواکونو په دغه چاپه کې یوه ښځه او دوه سړي شهیدان کړي،ګڼ شمېرخلک وهلي او شپږ تنه بندیان کړ ي دي. همدارنګه دملکي خلکودوه سرایونه، یوهوټل ، شپږ دوکانونه ،شپږموټراو درویشت موټرسایکلونه یې سوځولي دي.

دجنوري په ۳مه دننګرهار ولایت دغني خېلو ولسوالۍ په ۲۷ ویاله سیمه کې داخلي عسکرو دهاوان ډزې کړي چې له املې یې یو کس شهید او اووه تنه دښځو او ماشومانو په ګډون ژوبل شوي دي.

دجنوري په ۵مه امریکایي اشغالګرو اوداخلي ځواکونو د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ په اورموز سیمه کې پرسیمه ییز بازار او ورسره څېرمه ديني مدرسه چاپه وهلې،ګډوځواکونو دچاپې په مهال د بازار هټۍ ویجاړي کړي، مالونه یې ځني وړي او خلګو ته یې ځاني زیان هم اړولی دی، چې دقیق شمېر یې څرګند نه دی. همدارنګه وروسته یې په سیمه کې پر مدرسه هجوم وروړی، په مدرسه کې میشت طالب العلمان یې ځیني شهیدان او ټپیان کړي او ځیني یې دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي. ځایې خلګو رسنیو ته ویلي چې بهرنیو او کورنیو عسکرو په سیمه کې خلګو ته اجازه نه ورکوله چې شهیدان دفن او ټپیان تر روغتون پورې ورسوي.

دجنوري په ۱۰ مه اشغالګرود داخلي (سپیشل فورس عسکرو) په ملتیا د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ سورډاک سیمه کې دطالبانو سره جګړه کړې،دجګړې په پای کې یرغلګرو بمبار کړی، په بمبار کې دڅو تنو طالبانو تر څنګ شپږ تنه ولسي‌وګړي هم شهیدان شوي اواته نفره ژوبل شوي دي.

دجنوري په ۱۰ مه د غزني ولایت د قرباغ ولسوالۍ په ولي داد کلا سیمه کې اربکیانو یو طالب العلم(جمشید) تر نیولو وروسته شهید کړی

دی،ددې پیښې یو ویډیویې کلیپ په خواله رسنیو کې هم خپورشوی دی.

دجنوري په ۱۲مه د نورستان ولایت د نورګرام ولسوالۍ په لاټو کلا سیمه کې بهرنیو او کورنیو ځواکونو دچاپې په مهال څوارلس نفره ولسي ـ وګړي بندیان کړي دي.

دجنوري په ۱۲مه دلغمان مرکز مهترلام مربوط علیشنک کلي کې اربکیانو یوه بوډۍ میرمن په دې تور چې زوی یې طالب و، شهیده کړ ې ده.

د جنوري په ۱۳مه د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ د عبدالله ګل سیمي یواوسیدونکی(تور) اربکیانو شهید کړی دی.

د جنوري په ۱۵مه دغورولایت ددولینه ولسوالۍ په خواجه ګان سیمه کې داربکیانو قومندان (قومندان فرامرز) دوه تنه ملکي وګړي په وهلو وهلو کې شهیدان کړ ي دي.

دجنوري په ۱۵مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ د سیبکي په بازار چاپه وهلې،۳۰۰دوکانونه یې زیانمن کړي،په لسګونو دوکانونه یې چور کړي او د سیبکي د بازار دوه تنه چوکیداران (بهار او عبدالله چې ورونه وو) یې شهیدان کړي دي.

د جنوري په ۱۷مه د میدان وردګ ولایت مرکز اړوند سهاکوسیمه کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیا د ملکي خلکو په کورونو دچاپې په مهال لس تنه ملکي وګړي بندیان کړ ي دي.

د جنوري په ۱۷مه دهلمندولایت دنوزاد ولسوالۍ په یوه بازار یرغلګرو او داخلي کمانډویانو چاپه وهلې، پنځه تنه ملکي وګړي یې شهیدان او ټپیان کړي او خلګو ته یې مالي تاوانونه رسولي دي.

دجنوري په ۱۸مه دفراه ولایت دپشترود ولسوالۍ د چین په کلي کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی (عبدالهادي دسالارعبدالوهاب زوی) شهید کړی دی.

دجنوري په ۲۱مه اشغالګرو او داخلي عسکرو دشپنیو عملیاتو په لړ کې د پکتیکاولایت د نکي ولسوالۍ په توریخیلو سیمه کې چاپه وهلې، د کورونو دروازې یې ماتي کړې، خلک یې وهلي،کورونه یې تالاشي کړي، د خلکو څلور عرادې موټر یې سوځولي او په پای کې یې اتلس تنه ملکي هیوادوال بندیان کړي دي.

دجنوري په ۲۲مه سنیو خبر ورکړ چې:د کندز ولایت د چهاردرې ولسوالۍ په مربوطاتو کې امریکایي او داخلي ځواکونو دطالبانو پر ضدعملیات ترسره کړي،په عملیاتو کې دواړو لورو ته دمرګ ژوبلې اوښتو ترڅنګ ملکي هیوادوالو ته هم پراخ ځاني او مالي زیانونه رسیدلي دي. دراپورونو په اساس په یادووشوو عملیاتو کې دچهار درې ولسوالۍ مربوط په خرکارو، میاګانو، سجاني، زاخیلو، قریه یتیم او..... کلیو کې په لسګونو ولسي هیوادوال شهیدان او ټپیان شوي، دخلګو کورونه، جوماتونه ویجاړ شوي او ډیر مالي زیانونه ورته رسیدلی دی.عیني شاهدانو رسنیو ته ویلي چې: دهوا ځخه امریکایي الوتکو بمونه پر ې اورول او دمځکې ځخه داخلي عسکرو دتوپونو ډزې پرې کولې.

د جنـوري پـه ۲۴مـه دهلمنـدولايت دکجکـي ولسـوالۍ دګنـدم ريـز بازارپـه سـيمه کـې يرغلګـرو اوداخـلي کمانـډويانو دچـاپې پـه مهـال يـوه کتـاب فروشي او درې نوردوکانونه په بمونو الـوزولي اودرې تنه نانوايان يې شهيدان کړي دي.

دجنـوري پـه ۲۴مـه دکنـدهارولايت دارغسـتان ولسـوالۍ د وانـدوز پـه سـيمه کـې يرغلګـرو ددا خـلي عسکروپه ملتيا دچاپې په مهال څلور کورونـه ويجـاړ کړي،دخلګو وسائط يې سوځولي او دبيرتـه تـګ پـه مهال يې ديارلس تنه ولسي وګړي دبنـديانو پـه توګـه له ځان سره وړي دي.

دجنـــوري پـــه ۲۴مـــه دفـــراه ولايـــت دفـــراه رودولسوالۍ دچکاب په سيمه کـې پوليسـو يـو مـوټر چلونکی شهيد کړی دی.

دجنوري په ۲۵مه د ننګرهـار ولايـت دلعلپـوري ولسوالۍ ګـل ډاګ ګـرداوي سـيمه کـې اشـغالګرو د ملکي خلکو پـه کورونـو چاپـه وهلې،خلګـو تـه يـې پـر مالي زيان سربيره يـوه ښځـه او يـو سړی شـهيدان کړي او شپږ تنه کليوال يې بنديان کړي دي.

د جنـوري پـه ۲۵مـه د کاپيسـاولايت دنجـراب ولسوالۍ په افغانيـه سـيمه کـې اشـغالګرو د داخـلي عسکرو سره په ګډه دخلګـو پـر کورنـو چاپې وهـلي، مالونـه يـې لـوټ کـړي، څلـور تنـه ملکـي وګـړي يـې شهيدان او ټپيان کړي او دمحموديه دارالعلوم پنځه تنه زد ه کونکي يې بنديان کړ ي دي.

دجنوري په ۲٦مـه د غـزني ولايـت مرکـز اړونـد قره باغي سيمه کې د داخلي ځواکونـو پـه بمبـار کـې څلور کورونه ويجـاړ شـوي،اووه تنـه ملکـي هيـوادوال شهيدان شوي او شپږ نفره ژوبل شوي دي.

د جنـوري پـه ۲۹مـه دزابـل ولايـت دشـينکۍ ولسوالۍ په لوړه سيمه کې اربکيـانو يـوتن کـوچي شهيدکړی دی.

د جنوري پـه ۳۰مـه د غـزني ولايـت دقـره بـاغ ولسوالۍ په بـاران کـلا سـيمه کـې ددا خـلي عسـکرو دثقيله وسلو په پيرونو کې ديوې جنازې دولس تنـه ګډونوال ټپيان شوي دي.

دجنوري په ۳۰ مـه داخـلي عسـکرو ديرغلګـرو دالوتکو په ملاتړد کندهارولايت دميوند ولسوالۍ دبند تيمور په سيمه کې چاپه وهلې، دچاپې په مهـال يـې يـــو ديـــرش تنـــه ولسيـــ هيـــوادوال شـــهيدان کړي،دوودير ش نفره يې بنديان کړي او دملکي خلګو په لسګونو عرادې نقليه وسايط يې ويجاړ کړي دي.

د جنـوري پـه ۳۱مـه د فاريـاب ولايـت پـه سبزپوش ولسوالۍ کې ديرغلګـرو پـه بمبـاريو کـې د يوې ښځې په ګډون درې تنه ملکي وګـړي شـهيدان شوي او نهه کسان چې ښځي او کوچنيان هـم پکـي شامل دي ژوبل شوي دي.

مأخذونـه : [بي بي سي راډيـو،ازادي = ،افغـان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبريال ويپانـه ،لراوبـر=، نن ټکی اسيا=اوبينوا=]

۲۰۱۸ زکال

دجنوري د میاشتې جهادي خبرونه



منصوري مينه

شاعر: عقابي جانان

منصوري مينې راګېر کړی يمه دارته ورځم
د وصل شپې رالنډې شوې دي، دلدار ته ورځم

نمرودي اور کې راته ښکاري باغچه د جنت
د ابراهيم غوندې په نره سره انګار ته ورځم

ته مې مه، ښه په رضا د ستا چرې ته سر ږدم
يم اسماعيل ذبيح الله، د رب ديدار ته ورځم

توتې توتې پرچه پرچه په وينو لت پت ښه يم
امير حمزه په شان د لوی الله دربار ته ورځم

چې نه بندي شم، نه زخمي شم، نه شهيد شم په دين
بيا به په کومو سترګو زه د مينې يار ته ورځم

زه "عقابي" په توره شپه کې سپين سحر لټوم
خزان وهلی، رژولی يم بهار ته ورځم

پر افغان ولس د خارجي او داخلي عسکرو د ترسره شوي وحشت نمونې

MORCHAL

Islamic. Jihady . Educational and Cultural Monthly Journal

" د جهاد په لاره کې خپلې حوصلې لوړې لرئ، د الله تعالی په نصرت ستاسو قوي تدابیرو، پوخ عزم او قربانی اشغالګر او د هغوی ملاتړي له وارخطایي سره مخ کړي، د دښمن دسیسې یې ناکامه کړې، ستاسو په مقابل کې د تبلیغاتو څپه یې بې تأثیره کړې، دا حالت ایجابوي چې هر مجاهد باید دخپل نیت اوعمل لا ډیرې اصلاح ته متوجه واوسي، د خپل صف وحدت او اتفاق وساتي... "

د اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین شیخ هبة الله حفظه الله-